



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب پېژندنه


نوم . بدرنگه (ناول)

لیکوال . سیدادریس سادات

بڼه . پي ډي ایف

ډیزاین . طیب سکون

کمپوز . پخپله لیکوال

د لیکوال شماره . ۰۷۳۱۳۶۳۲۰۱

ویبسایټ . www.kesa.blog


د دې کتاب ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

ټولو هغو ملګرو ته چې د کليوال

ژوند سره

د زړه له تله مينه لري،

او هر وخت يې زړه غواړي

ترڅو په غرونو رغونو او ميرو

وګرځيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیل

د سهار څلور بجې وې؛ ویده وم.

یو وخت مې پر مخ د تورو زلفو تارونه تېر شول؛ له خوبه پاڅېدم.

سترګې مې وموښلې، له موښلو وروسته مې وغوړولې، حیران شوم.

حمیرا وه.

راته یې وویل:

کاش اوس هم بیده وای، په خوب کې څومره ښکلی ښکارې!...

ومې ویل:

لا له خوبه راویخ شوی نه یم، تا راباندې بیا د پخوا په څېر خپل لیونی عادت ولید.

ویې ویل:

څه وکړم هنرې؟

ستا مینه هم له معتاد کېدلو څخه کمه نده!...

ومې ویل:

ګوره دا د مینې او محبت فضول او چټې خبرې به ما سره نه کوې خا!...

زه یو شپونکی یم او مینه مې صرف د خپل خدای بیا له خپل ځان سره ده؛ چې هماغه خدای پیدا کړی دی، او له دې دواړو وروسته بیا له دغو څارویو سره ده؛ وګوره کنه، دا څاروي څومره مینه ناک دي، او ته داسې په بې رحمه ډول ورته هر وخت زیان رسوې.

ویې ویل:

نه پوهېږم، چې د هندوانو په څېر به له همدې ګډو او بیزې سره واده کوې؛ او که د یوې ښکلې څهرې درلودونکې میرمن به هم ځانته پیدا کوې؟

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دا خبرې پرېږده، ته خو د لمرختو نه مخکې نه ويخېږې، دا ځنگه نن د شفق پر وخت پورته شوې يې؟

ويل يې:

ته خو کلارې پروت يې، او خرهار دې خيژي.

بيا د دې دعوه هم کوې، چې له حيواناتو سره مينه لرې.

زما خو غوږونه دغې تورې غوا رامات کړل، ټوله شپه مې ترې خوب ونه کړ.

هاغه دی وگوره، خپل خوسی ستهي!..

اوهو دا څه وايې؟

دا خو ډېره سخته شوه.

دا به زه پدې ټوله لاره بيا پر شا وړم؟

دا خو لگ مزل ندی، پورته اته ورځې لياره ده.

په کړس يې وخندل، ويې ويل:

دا خو د غوا بچی دی، دومره ورته انديښمن يې!...

که دې خپل پيدا شو، بيا به څه کوې.

دا د ټوکو خبرې ندي، اته ورځې چې دې کله کټی پر شا وتاړه، بيا درته معلومات کيږي.

ويې ويل:

زه له تا سره په ژوند کولو کې دېته اماده يم، تر څو نهه مياشتې ستا ماشوم په گېډه وگرځوم؛

فکر کووم د دې په مقابل کې به اته ورځې هيڅ هم نه وي.

جلۍ ته گوره ډېره چالاکه شوې يې خا!..

دا خبرې دې ټولې زه انۍ جانې ته کووم، ته صبر وکه يو ځل پخير ورسېږو.

ويې ويل:

هر څه چې کوې کوه، رازه لمونځ وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ځایه پورته شوم، تر غره لاندې یخې اوبه روانې وې، یخو اوبو له پورته نه په لاندې راغورځېدو داسې نغمې ویلې؛ لکه یو عاشق چې خپلې معشوقې ته د مینې کتلو پر وخت له زړه آواز راوباسي او د خپلې مینې ګرم بړاس د ترنم په ټالونو وباسي.

پسرلی وو، ځکه په هوار ډاګ هم وخت تېریده!..

مګر بیا هم موږ د احتیاط لپاره خیمې وهلې وې.

په اوبو کې مې لاس دننه کړ، ډیرې یښې وې.

له یخنۍ یې وریږدولم، د اوداسه په نیت مې متې بډ وهلې، تلونکې اوبه په خوشحالۍ له بدنه څڅېدې، مخه ښه یې کوله، او د کونړ سیند په طرف یې په منډه منډه ځغاستل!..

ژر ژر مې اودس وکړ، زنه مې له ډیرې یخنۍ ریږدېده!

بیرته پورته د غره سر ته راوختم، یښې هوا د انسان د بدن پوستکی تخناوه.

په جای نماز ناسته وه، ورته مې وویل:

جای نماز پریږده چې لمونځ پرې وکړم.

نه یې پریږدم!

وئ!

ولې یې نه پریږدې؟

ژر کوه چې لمونځ قضا کیږي.

ویې ویل:

ته چې هر څه وایې ووایه، مګر زه درته جای نماز نه پریږدم.

فکر مې وواهه، ورته مې وویل:

څه غواړې؟

خولې ته یې ګوته نږدې کړه پورته د خیمې کونج ته په داسې انداز زیر شوه، چې ګمان کېده ژور فکر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د یخنۍ لړزې نیولی وم.

ویې ویل:

لومړی خو دې دا الیکافتر بند که!

دومره یخني هم نشته لکه څومره چې ته رپیږې.

دوهم: لس ځلې کښینه پاڅه، بیا پورته کیږم.

ومې ویل:

څه؟ څه دې وویل؟

ویې ویل څه چې دې واوریدل هماغه مې وویل!.

ګنې ما پاڅوه!..

څه به مې کړي وای، خو له ځانه سره مې نوټ کړه!.

چې هر وخت شوه، بدل ورنه اخلم.

چې اوس رانه دا لمونځ قضا نشي، د همدې لپاره مې یې شرط ومانه!.

او لس دفې ژر ژر پاڅېدم او کښېناستم.

حمیرا له خندا شنه شوه، او ویې ویل:

هنري!

ته خبر یې؟

تا د خدایې امر د سرته رسولو لپاره زما هم یو امر ومانه!..

پر تا ریښتیا هم خپل رب تر ما ډېر ګران دی، ستا مخکنۍ وینا چې ودې ویل:

زما مینه صرف زما له رب سره ده.

اوس راته معلومه شوه، چې ته په حقه یې!..

راشه لمونځ دې وکړه، چې بیا پخیر خپل مزل شروع کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ مې ژر ژر اداء کړ، او د کونړ پر لور مو يو ځل بيا رمه روانه کړه، د غوا خوسی مې په ملا پورې په پړي وتاړه.

حميرا د رمې تر مخه روانه وه، او زه يې تر شا روان وم.

تر څو کوم ځاروی په غرونو او ځنګلونو کې پاته نشي، له غره ليرې يو نيم شخصي باغ ښکاريده.

نور شاو خوا پسرلي خپل کرم پر ځمکه لورولی وو.

هره خوا شنه وه، له ليرې ځايه د رات کيرانې او ګل لالا بوی هم حس کېده.

خوندوره دره وه، حميرا په خپلو غواګانو سرې سرې کرښې کش کړې وې.

تر څو زما له غوګانو سره يې توپير وشي، د انسانانو خاموشي وه.

صرف تر غره لاندې روانو اوبو د پسرلنيو نغمو سازونه غږول، په اوبو کې ډيری ځګونه له پورته د اوبو په ښکته راغورځېدلو سره جوړ شوي وو.

يو څه مزل مو وکړ، مګر يو وخت حميرا چې د رمې لومړي سر کې روانه وه، ودريده!..

زه وروروسېدم.

رمه ترې مخکې شوه، ورته ومې ويل:

ولې ودريدې؟

ويې ويل:

هنري!

زه تا له تېرو دوو کالو وينم، چې داسې غمګين او ګمنامه ژوند تېروې.

هيڅاته هم وخت نه ورکوې.

ما دا هم له چا اوريدلي وو، چې ته يو وخت د اميرالمؤمنين، ځانګړی او راز ساتونکی شخص وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې ته دومره خاص شخص وې؛ بیا دې ولې هغه ژوند پرېخود، او دې گمنامه سفر ته دې راودانگل؟

ما ورته په زیر وکتل، په سترگو کې یې سوچ یوړم.

د تورې جگړې او د سپین ارگ وختونه را په زړه شول، زه د هغې په سترگو کې خپل تېر وخت ته ولاړم.

سترگې مې پټې کړې، او یوه شېبه مې د تېرو شویو خوندونو حس یو ځل بیا په شونډو وڅکه!!!

ویې ویل:

هنري هنري!

څه درباندې وشول څه؟

چې ومې کتل، رمه یو څه لیرې رسېدلې وه.

اوهو ژر ژر رازه چې رمه ډېره لرې ولاړه، په منډه منډه مې ځان وروړساوه!

هغې وویل:

پوره اته ورځې لاره لرو، که چیرې خپله کیسه راته وکړې.

نو هم به له لیارې خوند واخلم، او هم به ستا د غمجنې څهرې په راز پوهه شم.

ما وویل:

زما د غمجنې څهرې تر شا ډېر څه پټ دي؛ امکان لري تا په ژړا کړي ځکه وایم ترې تېر به شو.

ویې ویل:

نه پدې راز خو باید خبره شم، زه نور تاسره په نږدې اوسېدلو دا نشم زغملای چې ته دې خفه اوسې.

ښه چې دا خبره ده، نو واوره:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نن نه پوره شل کاله مخکې زموږ په کونړ کې ډېر خوندور ماحول وو.
ماشومانو به تر غرمو لوبې کولې، لويانو به مو ټوله ورځ په سخته ګرمۍ کې کار کاوه.
موږ د ژوند له کړاؤنو او د ژوند له نا کردو بې غمه وو.
کله کله به مو د ښار په واټونو کې د پړونو له دوکانونو سره د پټپټوني لوبه کوله او بيا ځينې وختونه به مو په سرو غرمو کې له ګرمو ختو ځانته ختين کورونه جوړول،
زموږ کور د ښار په منځ کې وو؛ هلته ډېر کم کورونه وو.
مګر ماشومان يې زيات وو؛ زما ياديږي، زه لا پرتوګ ته رسيدلی نه وم.
او کورنۍ راته خالي کميس کړی وو، هغه به هم هر وخت خيرن وو.
دا يواځې زما نه بلکې په پخوانيو وختونو کې د ټولو افغانانو دود وو، چې تر څو به يې ماشوم پنځه کلنۍ ته رسېدلی نه ؤ، پرتوګ به يې ورته نه کاوه.
د دې په علت بيا زه هم خبر نه يم، چې پرتوګ يې ماشومانو ته د غريب لامله نکاوه؛ که خپل پخوانی دود او دستور يې عملي کاوه.
خو زموږ کورنۍ ډېره زياته غريبه وه، ماته يې د غربت لامله پوره جامې نه وې کړې.
په هر حال زه د پرتوګ دور ته ورسېدم، وختونه تېر شؤ.
د ورځو نه يوه ورځ مې، مور پلار ته وويل:
تاند جلال آباد ښار ته بوزه!
او په کومه نامتو او مشهوره مدرسه کې يې واچوه، تر څو ورڅخه د ستر کتاب قران عظيم الشان ناظر او حافظ جوړ شي.
پلار مې پدې خبره يو څه فکر وواهه، دا چې زه د مور او پلار يواځينی نازولی زوی وم.
نو د مور اوپلار سره به هر وخت په يوه کوټه کې بيده کېدم، پدې شپه هم زه دلته وم.
پلار مې مور ته وويل:
سمه ده، تاسې اوس لپاره بيده شئ، زه سبا احوال درکووم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې شپه ویده شؤ؛ په سهار مې مور پاځولم، دواړه پدې راضي شوي وو.

تر څو جلال آباد ښار ته مې بوځي؛ او په یوه ښاري او مشهوره مدرسه کې مې داخل کړي.

زه په هغه ورځ هیڅ خفه نه وم، ځکه زما فکر هم زما په څېر کوچنی وو.

بس دېته خوشحاله وم، چې د جلال آباد ښار ته به ولاړ شم، د هغې ځای خوندونه به وګورم.

د بیروبار او موټرونو له اوازونو خو ستړی وم.

خو پدې پوهېدم، چې جلال آباد داسې یو ښار دی، چې پدې ښار کې د ټول مشرقي وګړي، راټولیږي.

او ټول خلک پکې سوداوې کوي.

د پلار سره مې یو ځای له کوره راوتم، دا وخت مې،،،

مور راته وویل:

څه بچیه!

په مخه دې ښه شه؛ الله دې د خپل ژوند په دغه سخت پړاو کې هم کامیاب کړه.

لومړی تر هډې راغلؤ.

او بیا مې پلار په موټر کې یوه څوکې کرایه کړه؛ زه مې د پلار په غیږ کې کښېناستم، د جلال آباد په لور د کنړ سور پلنکوچ، کوچ وکړ.

زما د خوښۍ او آرامۍ ورځې ختمې او د سختۍ او بېلتون ترخې ورځې شروع شوې.

زه دا مهال نوی نوی پنځه کلن شوی وم، دا زما ځکه یادیږي:

چې پلار مې راته په همدې ورځ یو صفا او سپین پرتوګ کړی وو.

زموږ کونړ خو ټول ښایسته دی، مګر د نوي ښایست لیدونکي ته پخوانۍ ښایست هیڅ هم نه ښکاري!

په لاره کې تر ډېره حده د سور پلنکوچ سره یوځای د کونړ سیند هم روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د لارې په اوږدو کې يې نوم د کونړ د سيند نه په کلار کلار بدلېده، يو ځای کې د خيوې نوم ته بدل شو، او بالاخره پلار مې راته وويل:

چې اوس هم د کونړ سيند ته د کامې اوبه وايي؛

کومې چې په همدې لاره د پاکستان په کرغيړن سيم اوړي، او د پاکستان عوام ورڅخه ګټه اخلي!

زما ښار ته د راتګ دا لومړی پوهه وه، چې حاصله مې کړه!

او هغه دا وه:

هر سيند چې په کومه سيمه تيريږي، نو د هماغې سيمې په نامه سره يادېږي.

د کامې نه بنغرو ته راورسېدو، او بيا هم د بهسودو په لاره کومې اوبه چې د کابل نه راغلي؛ او منډې وهي تر څو ژر له کونړ سيند سره يوځای شي؛ او د پاکستان هيواد وويني؛ راورسېدو.

له بهسودو مخابراتو چوک شو، کوم ځای کې چې د انسانانو ډيره زياته ګڼه ګوڼه وه.

او د انسانانو غال مغال د خلکو غوږونه ورخرابول، يو څه وخت مې هر څه ته له کتلو خوند اخيست.

خو اخر مې غوږونو ته لاسونه ونيول، زه په لومړي ځل د جلال آباد ښار ته راغلی وم.

په دوکانونو کې سراحي موسيقياني لګيدلې وې.

د کبانو له دوکانونو د کبانو تريو بويونه راپورته کېدل، يو ځای مخکې يو هوټل والا په تورو کبابو نارنج زبيښه!

خدای شته زړه مې ورته وشو، مګر ومې نشو کولای چې پلار ته ووايم، تر څو يې راته واخلي.

د جلال آباد په ښار کې پلار پلی (پياده) په مخه کړی وم، د دې ښار په واټونو کې هم زموږ د کونړ په څېر کورونه وو.

چې د چوک په منځ کې وو؛ پلار مې راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچکه زه ځم، پیسې ماتوم ته همدلته اوسه!.

پام چې بلې خواته ولاړ نشې، زه همدلته د ښار له کورونو سره ولاړ وم.

د ښار له اوازونو ګڼې ګوڼې او د انسانانو له چیغو مې خوندونه اخیستل، بازې هلکان به په لاره ډیر خوښ تیرېدل، مګر بیا یو نیم به ډیر زیات خفه وو.

له خپل ذهنه یې د کارونو بوجۍ جوړه کړې وه، فکر یې کاوه چې ټوله نړۍ یې پر مخ روانه کړې ده.

مګر یوه خبره ورځینې هیره وه:

هغه دا چې که خدای نا خواسته اوس راباندې اِلاهي رزق بند شو.

نو هیڅ هم نشم کولای؛ بس دوی دې الله تعالی پوه کړي.

زه د ښار په یو واټ کې د خپل پلار په انتظار ولاړوم، چې ناګهانه مې یوه چیغه تر غوږه شوه؛ هاخوا دیخوا مې ډېر وکتل څوک نه وو.

یو دم د شا له کوره یو نجلۍ راووته، د شایست پرې تمامه وه، ما نجلۍ ته کتل چې ناڅاپه له کوره یو ځوان هلک هم ورپسې په ځغاسته راوواته!..

لرګی په لاس له غوصې سور، او له خولې یې ناړې بادیدې!..

نجلۍ د سړک پر لور منډه کړه، له هغې خوا پرې موټر په ډېره تیزۍ راغی.

د موټر بانټ د نجلۍ له ګیډې سره ولګېد، نجلۍ یې هوا ته پورته کړه؛ او بیرته د موټر پر ښیښه راپریوته!..

د کرولا ګاډي ښیښه ماته شوه، د نجلۍ ظالم ورور منډه وراخیسته، او د موټروان غاړې ته یې لاس ورواچاوه.

ورته یې وویل:

زما خور دې ولې ووهله، دا زما نیازبینه خور وه، په تا پورې سترګې نه وې؟

ډریور یې درې څلور چکې کش کړ، زه حیران شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پخپله خو ده همدا غوښتل، تر څو نجلۍ ته زيان واوړي، مګر هر کله چې نجلۍ ټېپي شوه اوس پرې خفه دی.؟

دا وخت د دې ځای مالک راغی او د نجلۍ ورور ته يې له موټروانه پوره يو لک افغانۍ واخيستې؛ هلک د پيسو په شمارلو لګيا شو.

له کوره پرې ږغ وشو:

وه غلام الدينه هغه نجلۍ خو اوس روغتون ورسوه کنه؛

هلک وويل:

رکه روغه ده، هيڅ بلا پرې نه راغورځي،

له خوا مې تېر شو، دا خبره مې نرۍ شان تر غوږه شوه.

شکر زما د چرسو کار وشو.

دا وخت مې پلار راغی، له لاسه يې ونيوم؛ په لاره کې مې ورته پورتنۍ ټوله کيسه تېره کړه!..

ويې ويل:

بچکه!

ښار دی، هر ډول خلک پکې شته؛ ته دې صرف علم حاصل کړه او بېرته خپل سپيڅلي او له مينې ډک کور ته راځه!..

د دې ښار نامتو جماعت؛ ګمرک جماعت ته يې بوتلم،

پوره پنځه سوه افغانۍ يې زما له پلاره واخيستې،

پلار مې راته وويل:

څنګه شو بچيه!

د جلال آباد ښار دې خوښ شو؟

ما ورته وويل:

هو لالا ډير ښکلی ښار دی؛ بيشکه چې خوښ مې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلار په سترګو کې مې اوښکې راغلې مخ يې شاته واړاوه.

په سترګو يې لاس کش کړ، راتېت شو.

او راته يې وويل:

بس بچکه!

همدا دې ځای شو، ته به تر دې وروسته همدلته لدې قاري صاحب سره ژوند تېروې.

پلار مې رانه روان شو، ما ډېرې چيغې پخپل پلار پسې ووهلې!

مګر قاري صاحب کلک نيولی وم.

او هر کله چې مې پلار په دروازه ووت، نو قاري صاحب د نورو هلکانو و خواته بوتلم.

راته يې وويل:

دوی ستا ملګري دي، ته به لدوی سره په همدې جماعت کې وخت تېروې.

دا هم ستا الماری شوه، او دا يې هم کيلي ده.

قاري صاحب د جماعت ټول ځايونه راوخودل، زه ډېر زيات خفه وم.

خو خفګان مې بې ګټې وو، ځکه پدې ځای کې له خدای څخه بغير هيڅا هم زما درد نه حس کاوه.

د پنځو کلونو ماشوم او دومره سختي؛ دا ډېره سخته ده، چې ټوله ورځ او بيا د شپې تر دولسو درس ووايې!..

بيا ويده شې، او په سهار څلور بجې درته په لومړي ځل نه پاځېدلو صبر وکړي، او په دوهم ځل درپسې د ربړ دوره راواخلي او تغمې درباندې ودروي.

خير وختونه تېرېدل، زما خفګان به هم ورځ تر بلې زياتېده.

زه ډېر زيات کوچنی وم، تر اوسه راباندې د الله تعالی د امر حق هم نه جوړېده، ځکه چې زه لا تر اوسه هغه دور ته رسيدلی نه وم، چې انسان پکې خپل ځان پيژني!...

دا چې يو ماشوم خپل ځان پيژندلی نه وي، نو خپل خدای به څه وپيژني؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو خبر دا خو ښه وه، ځکه لمونځ د پاکۍ، د ذهن آرامۍ او الله تعالی ته د نزدې کېدو یواځینۍ لاره ده.

او ما سره د خدای نه بغیر هڅې هم بل څوک نه ؤ، چې ګیلې ورته وکړم.

له قاري صاحب څخه مې اوریدلي وو، چې هر کله خفه کیدئ نو څلور رکعته د شپې په ناوخته کې تهجد کوئ.

او الله تعالی ته مو خپل مشکلات پیش کوئ، بیشکه چې الله تعالی تر ټولو ښه دعا قبلوونکی دی.

زه به هم ډیری وخت د ستر رب العزت و مخې ته د شپې پر درې بجې کښېناستم.

هغه عالمان وایې:

چې هر کله خفه وې، او د شپې ناګهانه بیداره شوئ؛ نو پوه شه چې الله تعالی خپل ځان ته د ودرولو لپاره له خوبه راویخ کړی یې؛ تر څو مشکلات دې درحل کړي.

زه به هم هره ورځ الله تعالی په همداسې وخت له خوبه پاڅولم، ما به تل الله تعالی ته په نیمه شپه ژړل، تر دې وخته دومره پوهېدلی وم، چې د راز و نیاز لپاره که دې نور څوک ونه موندل، نو خپل رب له یاده مه باسه!..

هماغه ستر رب به دې مشکلات در حل کړي.

بس ښه وو، دعا مې الله تعالی قبوله کړه روژه راورسېده، او د روژې نه وروسته اختر وو.

شکر په روژه کې راباندې چا زور او زبردستي نه کوله، او پدې برخه کې یې یو څه نرمي کوله.

خو د خوښۍ خبره دا وه، چې له روژې وروسته ټول هلکان خپلو کورونو ته تلل!..

ځکه چې اختر وو او په مدرسو کې رخصتي صرف او صرف په اختر کې وي.

ما خپل رب ته د شکرانې په نیت پدې کم عمر کې پوره اتلس روژې ونیولې، غوښتل مې نورې هم ونیسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې تر حده زیات خوشحاله وم، مګر د اتلسو روژو وروسته په مدرسه کې د مدرسې دوه نیم زره شاګردانو ته غونډه ونیول شوه.

ټول شاګردان له ډیرې خوشحالۍ څخه په جامو کې نه ځاییدل، هر یوه به ویل:

یا ربه خپل دوهم جنت ته مې یو ځل بیا بوزه، که یوه ورځ هم پکې تېره کړم.

ستا دا احسان به په لکونو لکونو روپو هم ادا نشم کړای!

په نیم ساعت کې د مدرسې ټول شاګردان په صفونو کې سیده سیده کښېناستل، د مدرسې شور په آرام آرام کښېناست، په لوډ سپیکر کې یې لومړی د تلاوت لپاره زما د اطاق ملګری امجد علي چې خدای تعالی ورته ډیر ښکلی اواز ورکړی وو، راوغوښت.

هغه پدې ورځ چې د اختر له ورځې کمه نه وه، د زړه له تله تلاوت وکړ.

او ښه خوند یې ورنه واخیست، له تلاوت او نعت وروسته د دې اعلان وشو، چې د اختر په څلورمه به د مدرسې ټول شاګردان مدرسې ته حاضري ورکوي.

زما سترګې له ډیرې خوشحاله را ډکې شوې، ما ویل چې له ډیرې خوشحالۍ ټوپونه ووهم، هوا ته والوزم؛ په یخه هوا کې لکه مسافره مرغۍ دورې ووهم او تر ډیر ځنډ وروسته د خپلې ځالې پر لور فنا شم.

د دې ورځې نه یوه ورځ مخکې زما پلار ته هم قاري صاحب زنګ وهلی وو، هغه هم مدرسې ته راغی.

په کلار کلار د اخر له طرفه یو یو صف اوچتېده او رخصتېده.

زما زړه ټوپونه وهل او دا مې له ځانه سره ویل:

چې کله به وي، زموږ قطار هم رخصت کړي؛ له مدرسې راووتم.

بیرون مې پلار ولاړ وو، له لاس یې ونیوم.

او روان یې کړم؛ له پلار سره مې نه یادیږي؛ چې څومره وخت خبرې نه وې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو فکر کووم، اته نهه میاشتې به یې کیدې څکه هر کله چې مې پلار زه په مدرسه کې شامل کړم.
هغه وخت لنډ لوی اختر تېر شوی وو، ما ډېره زیاته مسافري په پنځه کلنۍ کې کړې ده.
ته خو دادی شل کلنه یې، بیا دې هم د شلو ورځو مسافرۍ ته خلق تنګ دی؟
حمیرا وویل:
ستا کیسه واقعا خوندوره ده، زه نشم کولای چې هڅې وخت تېر کړم.
باید چې وایې ورم!..
ما ورته وویل:
ته لیونۍ شوې یې، لمر ته وګوره سره غرمه ده.
رمه ودروه، چې چیرته کښېنو او ډوډۍ وخورؤ.
ویې ویل:
ستا کیسه هم یو ډول خوراک وو، نه پوهېږم مَړه یې کړم.
د رمې په منځ کې یې منډه واخیسته، په لګ وخت کې د رمې تر اخره ورسېده، ټوله رمه یې ودروله!
ما هم له شا څخه خوسکی رانکته کړ، یو څه شېبه مې ملا ګګه نیولې وه.
بیرته مې سمه کړه، ما کیږدۍ د خره له شا څخه راکوزه کړه اوږد لرګی مې یې خلاص کړ؛ د غره سر ته په راشنو شویو کبلو مې ولګوله، حمیرا هم اور ولګاوه او د هغه سیرلي چې په لاره کې مو حلال کړی وو؛ غوښه یې په اور کېښوده، د جواب چې لپاره یو څه وړاندې ولاړه!..
ما هم لاندې په یخو اوبو د ماسپښین لمانځه لپاره اودس تازه کړ.
بیا راغلم، او په شین ډاګ کې مې د لمر څخه د قبلې اندازه ولګوله.
په لمونځ ودرېدم، د لمانځه له ختمېدو سره مې حمیرا ولیدله چې راغله په لاس کې یې نارنج او مالټه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته مې وويل:

دا دې له کومه کړل؟

ويل يې:

هالته مخکې يې ډېرې زياتې ونې وې، ته دا ونيسه چې زه هم لمونځ وکړم.

هغې هم لمونځ اداء کړ، د سيرلي غوښه مو ښه په ماړه نس وخوړه.

او يو ځل بيا مو خپل مزل پيل کړ، حميرا وويل:

ښه نو هنري!

نور انتظار راباندې مکوه، کيسه شروع کړه، ما ورته وويل:

تاته چې اوس زما کيسې دومره خوند درکړ؛ دا چې ته پکې زما مينه، زما خيالات او راتلونکې پيښې واورې، نو څومره خوند به ترې واخلې؟

ويې ويل:

بس خبرې دې نورې نه منم، کيسه کوه!

ومې ويل:

بيا زه کور ته راغلم، اختر وو، او زموږ ښکلی کونړ د واورې په يخ پوښل شوی وو.

دا بيا د مينې هغه خوندورې شيبې وې؛ چې ما يې ډېر وخت انتظار کړی وو.

او تر ډېر وخت وروسته کور ته راغلی وم، ما په مدرسه کې ډېر څه زده کړي وو.

زه غريب وم، پدې پوهېدم چې پلار مې په کور کې د غربت په حالت کې ليدلای نشوم، ځکه مې هر ډول سختۍ ته غاړه ايښې وه.

د يوې يوې ورځې په تېرېدو سره به نيم نيم کمېدم، ځکه چې د مدرسې وخت مې ورځ تر بلې رانږدې کېده، د اختر په شپه مې پلار ښاري هټيو ته بوتلم؛ تر څو د اختر ټول لوازم راته واخلي!..

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې دې خدای ژوندی لري؛ ډېر څه يې راته واخيستل او په آخر کې خپل کور ته راستانه شؤ.

د اختر په شپه مې څلور پنځه واره بوټان په پښو کړل، تر څو ويې گورم چې تلي يې ښه دي او کنه؟

يو ځل مې بوټان په پښو کړل، يو څه بيرون راووتم، تر څو ويې گورم؛ بيرون په حويلۍ کې گرځېدم.

ښکلې فضا قايمه وه، يخه شپه، د واورو غونډوسکي او خاموشه خاموشي!...

دا وخت مې ناگهانه يو دروند غږ واورېده، بې هوښه شوی وم.

يو وخت دی؛ سترگې مې خلاصې کړې، په يو داسې کور کې وم؛ چې د خيمو په څير مثلث ډوله چت يې درلود، مگر له لرگيو جوړ وو.

ښيښې يې درلودې، بيرون ښيښو کې له ليرې ځايه داسې غرونه نظر ته راتلل، چې په گڼو ځنگلونو پوښل شوي وو.

د واورې طوفان وو، تياره هم خپره وه.

لرې ځنگلونو کې د خيږې په پانو له سره تر پايه واورې پرتې وې.

د خونې په کونج کې اور لگېدلی وو، يوه زړه بوډۍ کوټې ته راننوتهٔ!

ورته مې وويل:

زه دلته څنگه راغلم؟

هيڅ يې هم ونه ويل، بيا مې وويل:

تاسې څوک ياست؟

هغې په اشارو هڅه کوله، تر څو ما پوه کړي.

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې وکړه کنه، په کتابچه کې يې راته يو څه وليکل!
را مخته يې کړل.
ما يوازې مدرسه ويلې وه، که چيرته مې ورسره مکتب کې هم يو څه وخت تېر کړی وای!..
نو امکان لري په ليک او لوست به پوهېدم.
خو خير په عمر پينې ښځې زه په اشارو دومره پوه کړم.
چې هغه ګونګۍ ده، زه ډېر کوچنی وم.
څکه نو بوډۍ ښځې ماته په ګونګۍ ژبه الاهو پيل کړه:
هم هم هـــــم ، هم ههم ههم ، هـــــم هـــــم هـــــم.
زما پر سينه يې لاس کش کاوه، هغې ډېر په مينه راکتل او په خپله ګونګۍ ژبه کې يې پدې پوهولم.
چې زه اوس لپاره په يو محفوظ ځای کې يم.
او د هغه تر څنګ به هيڅوک هم ماته کوم زيان ونه رسوي.
بوډۍ ښځه ډېره مهربانه معلومېده، تر څو ورځو وروسته زه هم لګ لګ راجوړ شوم.
مګر په هيڅ هم پوه شوی نه وم.
ما غوښتل په حقيقت پوه شم، مګر زه به د ګونګۍ ښځې په اشارو څه پوه شوی وای.
بوډۍ ښځه به سهار وتله، او ماسپښين به د يو څه خوړو سره راتله.
مګر د حيرانتيا خبره خو دا وه:
چې بوډۍ ښځې هيڅ کار نکاوه؛ بيا به هم هره ورځ موږ سره کړي کبان خوړل، په هغې يخنۍ او واوره کې هغې تروو کبانو بېل ډول خوند کاوه.
مثلثل پوره يوه مياشت واوره ووريدله، واورين توپان وو.
په آسمان کې ويروونکو تورو وريځو د قهر نارې وهلې او د پشمونو په څېر ښکلې سپينه واوره يې په توره ځمکه لوروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واورې توفان دومره تېز وو، که د کور ښيښې نه وای.

نو ډېر ژر به په کور هم راننوتې وای، زما ډېر ساړه کېدل او پدې طوفاني ورځو کې به مې خپل لاسونه په اور گرمول!

ښه وو، تر دوو مياشتې وروسته يو ځوان هلک کور ته راغی.

هلک سره کښېناستم، ما هغه نه پېژانده مگر هغې ځان داسې خوده.

چې امکان دې ولري؛ ما پيژني.

تر دوو مياشتو مې هيڅا سره هم خبرې کړې نه وې، بيخي مې زړه تنگ وو شکر چې دا ملگری را پيدا شو.

هلک راته وويل:

ځوانه!

دا دوه مياشتې کيدې، چې ستا فکر راسره وو، ما ويل چې ته به څنگه شوی يې!.

شکر چې اوس مې وليدلی روغ يې!

ما خپل بانه گان گول کړل، او د هلک سترگو ته زير شوم.

هلک مور ته وويل:

ادې، يوه پياله د شيدو چای خو وکړه،

کيسه يې پدې ډول پيل کړه:

په هغه ورځ چې ستاسې ښار بمبار شو.

په هغې ورځ زه ستاسې و گزر ته د دې لپاره درغلی وم، چې هلته هم لکه د نورو ځايونو په څېر د مخابرې سيستم جوړ کړم.

مگر ناگهانه الوتکې راغلې، ستاسې په ټول ښار يې بمبارې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې په ښار کې یو نفر هم ژوندی پاته نشو، ما وکتل چې یو ماشوم د ښار په یو سړک پروت دی او ساګانې اخلي.

هغه ماشوم ته وې.

دا وخت روسیان راغلل ما ورته خپل کاري سند وخوده، ځکه یې زه او ته پریښودؤ.

ته مې دلته د ګونګۍ مور کره راوستلې او زموږ کارونه ډیر زیات وو.

نو ځکه درنه زه ولاړم،

ما وپوښتل:

زما مور او پلار به څنګه وي، ځوان هلک وویل:

ستاسې په کلي کې یې هم هماغه کار کړی دی، کوم چې یې په نورو ځایونو کې کړی دی.

هر شخص ته یې ویلي دی.

دوست یا دښمن؟

چې چا ورته دښمن ویلي دي، هغوی یې وژلي دي.

او چا چې ورته دوست ویلي دي، هغوی ژوندي ګرځي.

ما خپل سر ته لاسونه لپه کړل، زه ډیر زیات ناشکره وم؛ ځکه که چیرې زه مسافر وم، نو مور او پلار خو مې شکر ژوندي وو کنه!

د مینې نه ډک ژوند خو مو مدرسه کې هم وو.

سخت زیات مې وژړل، ګونګۍ ښځه او ځوان هلک ډیر زیات خفه شؤ.

اوس نو مشکل دلته ؤ؛ چې زما والدین به ژوندي وي او که مړه؟

حمیرا وویل:

یاره د کیسې اوریدل دې، یو څه سخت شول؛ ځګه زه پوهیږم چې تر دې وروسته به ضرور پکې د مرګونو خبرې وي.

او دا خبرې زما هیڅ نه خوښیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته مې وویل:
تر دې وروسته د مرګونو نه، د مينې اصلي داستان شروع کيږي.
او اصلي کيسه خو له همدې ځايه پيليږي، تر اوسه خو ته د کيسې په سر او اخر نه پوهېدې؛
مګر تر دې وروسته به په ټوله کيسه په ښه ډول پوهېږې.
ای ليونی:
دا وګوره ماته ښکاري، لمر په کوزېدو شو.
او د ماذديګر د لمانځه وخت دی، سيوري مو وګوره درې چنده لوی ښکاري!
جماعتونه خو نشته؛ چې آذان واورؤ، مګر دومره پوهېږم چې د لمونځ وخت په همدې نښو
ښکارېدلو سره داخليږي.
يو ځل بيا مو رمه ودروله، ټولو څارويو په روانو اوبو کې خولې ووهلې؛ زه يې سرته ورغلم.
اودس مې تازه کاوه، عادت مې وو.
چې تر هر لمونځ مخکې به مې ضرور اودس کاوه.
ځکه چې پدې سره به تازه کېدم او زما په څېر د شپونکيانو د ژوند خوندونه خو په همدې
کې وي کنه، په يخو او روانو اوبو اودس، د لارو ښکلې منظرې او زموږ زاړه يادونه؛ واهٔ!
خولې ته مې اوبه اچولې وې، چې له ليرې ځايه مې يو انسان وليد؛ روانو اوبو ته ناست دی،
استنجا پکې کوي.
اوبو مې له خولې څخه ټوپ کړ، ټوخي ونيوم.
زړه مې هم راجګ شو؛ بيا مې شاته رمې ته وکتل چې اوبه يې څښلې، د سړي و خواته
ورغلم.
بغير له پوښتنې مې يوه کلکه چکه کش کړ، چې ولې يې په روانو اوبو کې استنجا کوله!
بيا مې رمې ته اشاره وکړه، چې نه وينې هلته څاروي اوبه څښي؛ پدې اوبو کې انسانان
اودوسونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږم چې په حقه وم، او که په ناحقه!

مګر په خپله غلطۍ مې قانع کړ، هلک چې رمه ولیدله؛ هیڅ یې هم ونه ویل!..

فکر یې کاوه، چې د دومره غټې رمې سره خو به ضرور یو څه شپونکیان وي او په آرامه یې خپله لیاره ونیوه.

زه هم خپلې کیږدۍ ته راغلم لمونځ مې وکړ؛ حمیرا له غوټې پخوانۍ مالټې کومې چې یې د غرمې لمونځ پر وخت شوکولې وې، رااویستې، خوند یې وکړ یاره!..

ځینې مالټې پکې سرې هم وې، حمیرا وویل:

ته خبر یې هنري؟

ما وویل:

د څه نه؟

ویې ویل:

د دې مالټو د راز نه؟

ما وویل:

نه نه یم خبر ته مې خبر کړه کنه.

ګوره هنري؛

د دې مالټو رانیول؛ د افغانانو لپاره ندي، دا مالټې روسانو د ځان لپاره کرلې وې.

او هغوی پدې پوهېدلي وو، چې دغه مالټې صرف زموږ د مشرقي په ګرمو هېوادونو کې را زرغونېدای شي.

نو ځکه یې د دې مالټو تخم دلته راوړ.

ما وویل:

نو پخپله روسیه کې یې ولې نه کرلې چې دلته یې راوړلې؟

ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسیه ډیره یخه ده، او سرو کال پکې بارانونه کېږي.
هغوی د ننگرهار او مشرقي په رقم گرم ولایتونه نلري او کوم ځای چې یې گرم لیدلای دی، هلته یې دا مالته کرلې ده.
ما ورته وویل:
نو ریښتیا اوس خو روسیه نشته، اوس یې ولې بازار ته نه راوباسي؟
ویې ویل:
نه پوهېږم، شاید اوس یې امریکایان وړي؛ ورته مې وویل:
الله تعالی دې لکه د پخوا پشان د افغانانو یو بل ټولی جوړ کړي، تر څو د کفارو په مقابل کې ودریږي.
انشاالله لومړي سر کې به یې زه ولاړ یم.
زما په کابل کې د امریکانو ظلمونه له یاده نه وځي، او د یو یو ظلم پوښتنه به ورنه ضرور کووم.
حمیرا:
ریښتیا ژر ژر کوه، چې کیسه واورم؛ خیمه وچته کړه.
ما ورته وویل:
کیسه خو به واورې مگر شپه راروانه ده او د تور غره بیخ ته ځان رسول دي.
هلته یو کلی دی، زموږ خپلوان پکې دي؛ تېره شپه خو مو په ډاگه وکړه.
دا شپه خو باید یو څه ښه وکړو.
خیمه مې راغونډه کړه؛ د خره پر سر مې وتړله، د غوا خوسی هم په گرځېدو راغلی وو.
او له عذابه یې شکر خلاص وم، نورې به ژر په گرځېدو راتلې!..
مگر دې ډېر زیات پعذاب کړم، خیر د غوا پې یې رودلې!..
نه مې غوښتل چې خنډ شم پکې؛ حمیرا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنري شپه راروانه ده، دا وروسته هم شیدې رودلی شي.

اوس باید مورږ ځان د تور غره تر بیخه ورسوو؛ ما ورته وویل:

د والدینو مینه چې هر ځای کې ووینم، ژړا راځي.

زه به څنګه دا وزه د خپلې مور نه جلا کړم.

حمیرا وویل:

هنرییییی!

خدای ته وګوره!

ناوخته دی، خدای ناخواسته د شپې مو رمه چېرته د شرموخانو خوراګ نشي.

ما وویل:

سمه ده سمه ده.

تا د والدینو د بېلتون درد چېرته لیدلی دی، ته خو بس دېته تکړه یې؛ چې زما په کیسه کې د خوندونو ځای واورې.

او له سختیو یې تېره شې، ځکه چې تا د درد په اړه نه هم څه اوریدلي دي، او نه دې هم څه لیدلي دي.

خیر هغه دی، موږ شو، څه چې پخیر ځو.

د ماذدیګر لمر د غره پر سر نیمایې ښکارېده، تر غرونو ور ها خوا وچه بیدیا او دښته معلومېده.

شکر چې د شپونکیانو لاره په شنو غرونو او د یخو اوبو پر غاړو وي.

حمیرا وویل:

خا کیسه کوه، هنري!

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سره تر ټولو زیات تشویش د دې وو؛ چې مور او پلار به مې ژوندي وي او که خدای نا خواسته وفات شوي به وي.

دا چې زه ډېر کوچنی وم، نو دا مې نشو کولای چې په یوائې ځان دومره ستر غمونه وزغمم.

ځکه نو تبې ونیوم، تر درې میاشتو په پالنګ کې پروت وم.

دا مهال زه اووه کلنۍ ته ورنږدې شوی وم؛ د مدرسې برکت مې دا وو چې یو لمونځ هم رانه شکر نه قضا کېده.

تل به مې لمونځونه کول او په دعاوو کې مې له خدایه صرف یو سوال وو.

هغه دا چې یا ربه ته وکړې، چې زما په مور او پلار څه شوي نه وي.

وخت تیرېده، یو وخت د بوډۍ ښځې ځوې جعفر راغی؛ راته یې وویل:

مبارک شه تانده؛ ستا مور او پلار ستا په دیدن پسې تر دې ځایه راروان دي، هغوی ستا نه په جداوالي پوره دوه کاله ویر کړی دی.

هغوی ته مړ حساب کړی وې، ما ورته وویل:

څه جعفره وروره؟

د خوشحالۍ اخیري حد وو، ټولې پوښتنې مې له یاده ووتلې؛ ورته مې په سلګو وویل:

جعفره وروره!

هغوی پخیر څه وخت دلته راځي.

ما له خپله ربه دا دوه کاله همدا دعا غوښتې وه، او شکر هغه دعا مې خدای قبوله کړه!

له ما مرض کډه وکړه؛ او د کور په سینګارولو مې پیل وکړ.

جعفر ویلي وو:

مور او پلار به دې تر دې ځایه پوره په دوو ورځو کې راورسیږي.

ما وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه دا کوم ځای دی؟

ويې ويل:

دا د کونړ هغه سیمه ده، کوم ځای چې له پاکستان سره بندر لري.

او مور او پلار بدې څکه په دوو ورځو کې راروسيږي؛ چې د برید پروخت هغوی ایران ته پنا وروړې وه.

او اوس هغوی ایران کې اوسيږي، دلته ورته ما د راتللو اجازت اخيستی دی.

او له هغې ځایه البته دوه درې ورځې لګيږي، ها هغه وخت ټول سړکونه خامه وو.

او يو سړک هم د اوس په رقم پوښ نه وو، که روسیه راغلې وه، نو د خپل مطلب لپاره!

پدې سره يې د افغانانو په سترګو کې خاورې شيندلې، چې مونږ تاسې ته سړکونه او پلونه جوړوو.

حميرا وويل:

که څوک ستا دښمن وي، هغه تاته په هيڅ صورت کې هم ګټه نه درسوي.

ما وويل:

پر مونږ يې احسان نشته؛ د دې سړکونو او تونلونو په بدل کې يې راته ناموسونه لوټلي دي؛ د جرګو د خلکو له سرونو يې پټکي غورځولي دي، د قدر وړ خلک يې راته بې عزته کړي دي.

حميرا وويل:

اوهو هنري؛ کيسه دې ډير خوندور ځای ته رسولې ده.

کيسه وکړه، مور او پلار خو دې ښه دی ژوندي وختل!

ترخه موسکا مې وکړه؛ ورته مې وويل:

هو ژوندي وختل؛ مور او پلار مې ريښتيا هم د دې ورځې په سبا راورسېدل!

تر کلونو وروسته مې يو ځل بيا د پلار د سينې خوشبويې حس کړه، او د مور د شفقت خبرې مې واوريدې، ژړا راغله بيرون راووتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل مې والوزم، په لمدو غرونو مزل وکړم؛ چیغې ووهم.

او د زړه د خلاصه نارې کړم؛ چې یا خدایه ته څومره مهربانه ذات یې!

تا د یو ماشوم د دعا په بدل کې د هغې مړه مور او پلار بېرته راژوندي کړل؛ ته چیرته یې

خدایه!

زه له تا سره دومره مینه لرم؛ چې په دې ټوله موجوده زمانه کې به یې څوک درسره ونه لري.

خدایه!

ستا لپاره دې؛ زما سر سل ځله قربان وي.

یا ربه!

که چیرې ستا د دین د حفاظت لپاره په دنیا کې کوم عسکر ته ضرورت وي؛ نو تر ټولو لومړی عسکر دې، زه یم.

بیرته کور ته راغلم؛ پدې خبرو سره مې زړه یو څه سپک شوی وو.

مور مې د پخوا په شان په کوټه کې د پالنګ منځ ته کښېناسته؛ او د ماشومتوب د مینې ماتولو په پار یې راته کیسه شروع کړه.

مګر له هغې دا هېر وو؛ چې پر ما کلونه تېر شوي دي.

دردونه راباندې تېر شوي دي؛ زه پخپله ټول کیسه کیسه یم.

د بوډۍ ښځې او جعفر ورور خواهش همدا وو؛ تر څو موږ همدلته پاته شو.

او همداسې مو وکړل؛ د دې لپاره چې کیسه خوندوره کړم، نو یو څه مخکې به ولاړ شم.

وروسته دې په کیسه پوهوم،

حمیرا وویل:

سمه ده.

په کابل بازار کې د یوې سینما ټکټ پلورونکی شوم؛ دلته به ډول ډول خلک راتلل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ځای کې راته وظیفه جعفر ورور پیدا کړه؛ هر ډول نجونې، هلکان، بوډاګان او د پاخه عمر والا خلک به دې سینما وو ته تلل!

د شاهرخ نوی فلم راغلی وو؛ نوم یې له ما هېر دی.

البته کویلا وو که کولا نوم یې وو؛ ډېر زیات رش پرې جوړ وو.

په سینما کې به هر چا د کویلا فلم پوښتنه راځخه کوله؛ چې کله نشریږي؟

دلته په کابل کې داسې ماحول دی، چې هر سړی آزاد دی.

د هر چا چې هر څه زړه وي، هماغسې کوي.

ډیر خلک د خپل ذوق لپاره سینماوو ته تلل، د دې سربېره مسجدونه هم په همدې خلکو آباد وو.

یو نیم نفر خو به لا ویل:

زه لمونځ کووم، بېرته راځم؛ یو ټیکټ راته ضرور وساته، نه پوهېږم مګر دې خلکو هم د جماعت حق اداء کاوه او هم یې خپل ذوق خړوباوه.

په هر حال په همدې ورځو کې د سینما مخې ته ولاړ وم، خلکو ته مې ټیکټونه ورکول؛ یوه نجلۍ راغله!

د دې په راتللو سره ټیکټونه ختم شول.

ما ورته وویل:

وبښئ، ټیکټونه ختم شول.

تاسې سبا راشئ، ویې ویل:

خیر دی له ډیر لیرې ځایه د کابل سینما ته راغلې یم.

پښتو یې خوږه خوږه ویله؛ آواز یې راباندې خوږ ولګید.

په چپ اړخ کې مې لس ټیکټونه د دې لپاره ایښي وو، تر څو په ګرانه بیه یې خرڅ کړم.

فکر مې وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې له ځانه سره وویل:

که چیرې دا ټیکټ ورکړم، زما ګټه ورکې ورکیږي.

ورته مې وویل:

وبښئ ټیکټ نشته، نجلۍ په غمجن زړه روانه شوه.

ما لس ټیکټونه راواخیستل؛ د سینما و مخې ته ودریدم.

تر څو په ګرانه بیه یې وپیرم، په لسو کې مې پنځه دانې په درې چنده ګټه او نور درې په دوه چنده ګټه خرڅ کړل.

دا وخت مې وکتل؛ د سینما عمومي مدیر راغی.

شاته ورپسې نجلۍ هم راروانه وه.

حیران شوم، لاس په لاس یې په درغلۍ ګیر کړم؛ مدیر راته سترګک وواهه.

ویې ویل:

هلکه څنګه ته په غیر قانوني ډول ټکټونه خرڅوې؛ ها؟؟..

ته د پامیر د سینما له قوانینو خبر نه یې؟؟..

مدیر بار بار سترګکونه وهل؛ ما سره ټول پدې کار راځي وو.

ځکه چې دوی راته معاش نه راکاوه؛ ما به له همدې خپلې پیسې پوره کولې.

نجلۍ وویل:

څنګه دی؛ ماته دې ټکټ نه راکاوه؟

اوس له دندې ګوښه شوې، خوند یې درکړ؟

ورته مې وویل:

دا دې ښه کار ونکړ، پدې ورخ مدیر په اشارو پوه کړم او د ټولو خلکو په مخکې یې له سینما وشړلم.

په سبا بیا پخپل ځای ناست وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هههههههه

ټولو راته کتل، ما ورته وویل:

ولې راته داسې ګورئ، په ډېره سخته یې وبښلم.

مدیر راته ویلي وو.

چې پام کوه، چیرته بیا ګیر نشې.

تر څه وخت ورسته د امر خان نوی فلم ریلیز شو.

هماغه نجلۍ بیا راغله؛ خو دا ځل یې بخت ښه وو.

ټکټونه وو؛ مګر د دې زړه به چا ورکړی وای، چې له ما دې ټکټ وغواړي.

هغې یو ځل زما شیطاني د سینما مدیر ته کړې وه، دا ځل یې ما سره د سترګو مخامخ کولو جرأت نه درلود.

ما یو یو نفر ته ټکټ ورکاوه.

نجلۍ راته تر سترګو لاندې لاندې راکتل؛ په مینه مې ورته وخندل.

لاس مې ورته وخوراوه؛ د راتلو اشاره مې ورته وکړه، ځان ته یې ګوته ونیوله.

سر مې ورته وخوځاوه، هو تا خایم.

زړه نازړه ورو ورو راغله.

ورته مې وویل:

ټکټ مو پکار وو؟

ویې ویل:

هو

نو مخکې به راغلې وې؛ دا ښه دی چې ما درغږ کړل؛ ګنې بیا درنه ټکونه ختمېدل.

ګلابي خندا یې وکړه.

او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعده ده؛ تر دې وروسته هیچاته هم ستا شیطاني نکوم، مګر زما غلطي هېره کړه؛ او معاف مې کړه.

د مینې تبسم مې وکړ، سر مې وخوځاوه.

دا نجلۍ پر خوا مې مخ ورواړاوه، ورته مې وویل:

کومه غلطي؟

ویې خندل؛

له خولې یې بې اختیاره ووتل!..

بدرنګه!..

منډه یې واخیسته او د سینما په دروازه داخله شوه؛ د نجلۍ سره په داسې خبرو کولو مې یو څه ذهن ته راغلل.

زما اصلي منزل بل څه وو؛ سینما او ټکټ خو هڅې بوختیا وه.

خېر دا به وروسته درته ووایم؛ دې نجلۍ به ډېر زیات پعذابولم.

ډیری وخت به یې له کاره ویستم؛ اکثر وخت به راته مدیر ویل!

ته په څه بوخت یې؟

ولې خپلو کارونو ته توجه نه کوې؟

ما به ترې ښښنه غوښته؛ بس خطا شوم.

د نجلۍ سره مې مینه وشوه؛ د کابل نجونې آزاد خیاله دي.

د هیڅ شي پروا نکوي؛ مګر په مینه کې تر هر څه تیرې دي، د نجلۍ نوم اسما وو!

په ښایست کې یې تر هر چا لوړی مقام ګټلی وو.

که چیرې تاسې پخپله خیالي نړۍ کې یوه ښکلې نجلۍ جوړه کړئ؛ او بیا ووایې چې دا نجلۍ هغسې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو نه تاسې سل په سلو کې په غلطه یاست؛ ځکه د داسې ښکلا تصور هیڅکله هم ما نه وو کړی، پر ما هم ځواني تېره شوې وه، هرو مرو به مې په خیال کې له ځانه سره ښکلې نجونې جوړولې؛ مګر دا له هغوی ټولو څخه جلا وه.

د دې پیکې کوم چې په یو خوا پروت وو، توبه وژل یې کول!

د آزادۍ ارمان یې رانه هېر کړ.

هر وخت به یې له خپله جېبه پیسې مصرفولې، حالانکه دا چاره یې زما نه خوښېدله، مګر بیا هم هغه له خپل عادته نه ګرځېده.

ویل یې:

زه خو ټوله ستا یم، بیا نو دا پیسې څه دي.

دا کاغذونه خو ماته مینه نشي راکولای، خدای ناخواسته که ته راسره نه یې بیا به زه په دې پیسو څه کووم.

قبر ته خو یې له ځانه سره وړلای نشم.

د مینې خوندور وختونه وو.

ورځ وروسته به مو یو ځای د چکر لپاره ټاکه او همداسې به هر وخت چکرونو ته تللو!..

ورځو کې یوه ورځ ما او هغه د یوې ونې تر سیوري لاندې ناست وو.

ورته مې وویل:

زه د مینې انسان نه یم، زه اوس د نفرتونو په دریاب کې ډوب شوی یم.

که چیرې ته د خپل ځان سره مناسب هلک د ځان لپاره وګورې، تر څو تا وساتلی شي؛ نو ته به ډېره زیاته په ګټه کې واوسې.

هغې وویل:

ستا سره په یوه دقیقه اوسېدلو سره هم زه د لکونو روپو د ګټې احساس کووم.

زه به د زړه له تله خواري وکړم، تر څو تا د مینې پر لاره روان کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسما ته ولې نه پوهيږې؟

زه په داسې يو درياب ورگډ شوی يم، چې له هغې وتل څه دومره اسانه خبره نده!

له مينې په ډکو سترگو يې راوکتل او په مينه يې وويل:

امکان لري، زه هغه کښتۍ اوسم.

کومه چې به تا تر ساحله رسوي، يو ځل مې په مړو سترگو هغې ته وکتل!

سر مې له ډېرې ناخوښې د پښو منځ ته ولوېد، رانږدې شوه.

په غوږ کې يې راته وويل:

تاته مې د يو کرولا موټر او ښکلې وظيفې بندوبست کړی دی، که چيرې زه وم يا نه خو دامې درسره وعده ده.

تا به د خپل کرغيړن دوزخه وباسم او تاته به د جنت د نعمتونو په څېر ژوند درکووم.

وروسته کتل گلابي خندا مې وکړه، مخ مې ترې بل خواته واړاوه او له ځانه سره مې پټ وويل:

زما له دې دوزخه وباسل چيرته ستا کار دی!.

دا ورځ هم تېره شوه.

مدير راته په هفته کې درې ورځې د چوټۍ لپاره مقررې کړې.

زما پر ځای به دا نورو درې ورځو کې يو بل هلک کار کاوه.

اوس نو بيخي وزگار وم، ښه وو موټر هم راسره وو.

يوه ورځ وروسته به چکر ته تللو، ماته يې سينما کې ښه معاش راکاوه مگر ما به اصلي خرچه له بله ځايه هم پيدا کوله.

يوه ورځ د چهارشنبې په ورځ مو وعده وکړه، تر څو سالنگ ته ولاړ شو.

ښه وو چکر مو وواهه، لاره يو څه ډېره وه.

يخ ډېر زيات وو، سالنگ ټول په واورو پوښل شوی وو.

موږ له موټره راکېوتو له ځانه سره راوړې کيږدۍ مو هواره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واورې له یخه مو خوند اخیسته، هغه لیرې د سورنګ موټرو ته زیر شوه.

د یخنۍ رپ نیولې وه، ساړه یې کېدل!.

د سپین پرتوګ او تور کمیس سره بیشکه ښکلې ښکارېده.

یو څه له بدنه چاغه وه، د مخ یې له واورې سره داسې ډېر څه توپیر نه کېده، صرف دومره وو چې واوره دومره نه ځلېده لکه څومره چې د هغې مخ ځلېده.

راویې کتل!..

ویې خندل، ماته هم خندا راغله.

ویې ویل:

زما په تشې خندا مسته!

که غیږه درکم لیونۍ به شې مینه!

خوا ته یې ورغلم جوخت ورسره کښېناستم.

ورته مې وویل:

ته خو داسې د کابل ښار ته ګورې، لکه څه د خوراک چې دې موندلي وي.

سترګې یې دواړه نیمه پټې کړې او داسې یې راوکتل لکه د مینې غوصه چې کوي.

دوه درې ځلې یې په سینه په کلاره کلاره ووهلم.

ویې ویل:

هنري ته د خوراک خبره کوې، د دې هیواد کتل خو سم داسې دي، لکه تږی روژتي چې د آذان پر وخت د روح افزا ډک ګیلاس پر سر واړوي.

ته نه پوهیږي، له خپله هیواده بیرون خلک د دې هیواد څومره ستر آرمان لري.

زه پیدا شوې هم په بریتانیا کې یم، او ټول ژوند مې هم همالته تېر کړی دی.

زما مور او پلار اوس هم همالته دي، هغوی نه غوښتل چې زه دې افغانستان ته راشم.

مګر زه راغلم، دلته په اوسېدو مې د مینې ژوند زده کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو میلمه پالنه مې ولیده، خلک مې ولیدل او خاص خبره دا چې د خپل مور او پلار هغه پلرنۍ هیواد مې ولید، د کوم هیواد له نوم اخیستو سره چې د خارجیانو په ذهن کې جنګ راځي، لانجې راځي، ټوپکې راځي او همداسې نور....

مګر زه چې دلته راغلم، دلته له جنګه مینه ډیره ده.

د دې ځای انسانان چې څومره مینه ناک دی، د نړۍ په یو هیواد کې به هم دومره مینه ناک خلک نه وي.

ما ورته وویل:

خا نو ته بیرته د تګ څه چانس نلرې؟

ویل یې:

لرم یې، د حوت په لومړی نیټه چې سبا ته ده؛ پرواز مې دی، مګر ستا لپاره پاتې یم.

ما ورته وویل:

اسما ته داسې وکه بریتانیا ته ولاړه شه؛ زما او ستا سره نه کیږي، له هغې مې رخصت واخیست او په کرایې موټر کې کابل ته راغلم.

نجلۍ به هره ورځ سینما ته راتله، دوه درې ورځې د سینما مخې ته ودریده په څلورمه ورځ پرې څه وشو.

هغه راوغورځېده، ما هم ورمنډه کړه، ژر ژر مې روغتون ته ورسوله، زما لدې نجلۍ سره مینه وه.

خو مجبوریت د خپلې مینې پر لور نه پریښودم، نجلۍ په روغتون کې په سد راغله.

راته یې وویل:

له ما په کانټینیټال هوټل کې بیګ پاتې که هغه راته راورسوې؛ زه نور یوه دقیقه هم نه غواړم، چې دلته پاته شم.

ورته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده، زه يې راوړم.

اوس به درته زه د نجلۍ خبره وکړم.

مگر د خبرې نه مخکې دې مبارک شه، کلي راورسېد.

حميرا وويل:

څه څه کلي راورسېد؟

شپه ناوخته وه او د لارې په اوږدو کې له څنډ وروسته د شپې په نهه نيمې بجې کلي ته ورسېدلو.

دا کلي لکه څنگه چې ما مخکې درته وويل:

زموږ د خپلوانو دی، دا بلکل غلته ده، دا د اسما دوی کلی دی، موږ دلته د اسما دوی کره ځو.

ويې ويل:

څه دغه د کيسې اسما ښايې؟

مخ مې ورواړاوه، په خندانه رويه مې ورته سر وخوځاوه.

ويې ويل:

مطلب د کيسې اسما به اوس په اصلي دنيا کې وگورم؟

هو نو.

دا د اسما دوی کلی دی، په دغه پورته غره کې به زه او هغه يو ځای کښېناستو او د ټول کلي سيل به مو کاوه.

دا کيسه راروانه ده، کيسه اوس لگه پټه ده وروسته پرې پوهيږې.

دروازه مې ټک ټک کړه.

له کوره تور سړی په خوبلن انداز راوواته.

له اصويلي سره يې خولې ته لاس ونيوه، چې ويې ليدم.

حيران شو، هنري ته!..

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامونه یاره!

کله راغلې؟

خبر یې هنري اسما..

په خوله مې ورته لاس کېښود، ټولو ته مې وویل چې د اسما په باره کې به هیڅ نه وایې.

حمیرا په ټوله شپه کې نه هم اسما ولیده، او نه یې هم په حقیقت خبره شوه.

شپه مو د تیره نیشونو درلودونکو میاشو سره تېره کړه او سبا مو بیرته حرکت وکړ.

حمیرا وویل:

هنري!

د اسما په اړه هیڅا هم څه ونه ویل.

ورته مې وویل؛

بیا کیسه ختمه شوه نو!..

یو ځل بیا مې کیسه پیل کړه.

هنري ولاړ!..

او د هغې تر تلو وروسته په کانینټال او داسې نورو اتو هوټلونو برید وشو.

د هغې بیا تر اخره معلومات تر دې جینۍ ونه رسېده.

هنري خپل غر ته ولاړ او د پیاوړي مدیریت وروسته یې خپلې ډلې ته ستره بریا راوړې وه.

ما یعنې هنري د مجاهدینو لپاره پوره شپږ میاشتې په ښار کې ولګولې او د مجاهدینو لپاره مې د یو پیاوړي مدیریت لاندې پوره اته بریدونه چمتو کړل.

چې په یوه ورځ کې ټول عملي شول، پدې بریدونو سره مجاهدینو ته د روسیې دولت له ډیر څه تېر شو.

او د مجاهدینو زیرکتیا یې ومنله،

زما مور، پلار، جعفر ورور او د کونړ په زوړ کور باندې یو ځل بیا روسانو برید وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت زه او گونگۍ ښځه د غره نه په توتانو راوړلو پسې تللي وو.
مور د خپل کور د نړیدلو او بمباریدلو صحنه له ورایه پخپلو سترگو ولیدله، د گونگۍ ښځې تر سترگو زر زري ملغلرې راوغورځیدې، هیڅ یې هم ونه ویل!.
الله تعالی ته یې لاس پورته کړ، په زړه کې یې چې څه وگرځېدل ویې ویل!
د خپل ویجاړ کور پر لور ولاړه، ما یې اوښکې ورپاکې کړې.
د مور، پلار او جعفر ورور مات هډوکي مو راټول کړل، بوډۍ ښځې د جعفر یو هډوکی په یو لاس پورته کړ.
له درده ډکه کړیکه، چې ښکاره معلومېده له زړه یې راوتې ده، له خولې یې بهر شوه.
گونگۍ ښځه مې سینې ته رانږدې کړه، هغه د خپل ځوی او زما د مور او پلار په مرگ ډېره زیاته ودردېده.
مړي مو ځمکې ته وسپارل، بیرته مو د خپل کور په جوړولو پیل وکړ، مگر هغه کور بیا تر اوسه جوړ نشو، ځکه چې ما پکې هاغه پخوانۍ مینه بیا ونه لیده!..
له خدایه مې ډېرې دعا گانې وکړې، خو بیا هیڅوک هم لکه د جعفر ورور رانغی او راته یې ونه ویل:
چې مور او پلار دې ژوندي دي.
ما نور څوک نه درلودل، ځکه نو د مجاهدینو سره به هر وخت لومړي صف د جنگ کې د زړه له خلاصه جنگېدم.
د مور او پلار غچ اخیستل مې تر ټولو لوی ارمان وو او شکر هغه هم وروسته پوره شو.
ما پدې جنگ کې هم خپله مینه اسما د لاسه ورکړه او هم مې مور او پلار پکې شهیدان شول!.
زما زړه ته اسما لکه د پسرلي د گل په څېر راننوته؛ هغه مې په پسرلي کې بوی کړه، مگر د خزان په لویدلو پاڼو کې مې بیرته د لاسه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسما ښه نجلۍ وه، مگر ښه دا وشؤ؛ چې هغه زما پدې کړنې خبره نه شوه.

او د هغې په مخ کې مینه ناک هنري مړ شوی وو.

ته به اوس فکر کې یې چې څنگه کله زما نوم هنري شي او کله تاند شي؟

ومې ویل:

زما ټول نوم تاند هنري دی.

حمیرا کتۍ په لښته وواهه، ویې ویل:

ښه کیسه کوه، ومې ویل:

تر هغې وروسته مې اسما ونه لیده او په خپل جهاد کې بوخت شوم، یو وخت زموږ قوه په روسانو قوي شوه.

او مخکې ورغلؤ.

دا وخت یخنۍ بیرته بیا خپل ځای نیولی وو.

واوره ډیره وه او دا جنگ مو د کونړ سیمه کې وو.

د دښمن یوه یوه پوسته مو نیوله، د تعجب خبره خو داوه:

یو عسکر هم په پوسته کې نه وو، ورو ورو مخکې ورتلؤ.

دا مهال زما یو ملگری مولوي عمر او بل ملگری مولوي وارث خان وو، کوم چا چې بیا په راتلونکي کې په ټول افغانستان واکمني وکړه.

زه د دوی ټولو سر لښکر وم.

دا مهال یې دوی دواړه دلته رالیږلي وو، زموږ تشکیل هم یو څه زیات وو.

شکر ډیر وؤ، ځکه خو مخامخ په پوستو ورتللؤ.

مگر له بلې خوا هیڅ عسکر په پوستو کې نه وو، چې ورسره جنگیدلی وای.

موږ خبر نه وو، مگر دا موږ ته ډیر لوی دام جوړ شوی وو.

تر ډیر زیات مخکې تللو وروسته مو یو دم خیال شو، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول لاسونه پورته کړئ، نږدې وو.

له ماسره بله لاره نه وه، زه او دوه درې نفره یې روان کړو.

ځکه موږ له ټولې مخکې روان وو، زما عادت وو زه به تل مخکې تلم.

شاتنیو عسکرو په دښمن برید وکړ، نور ترې زه خبر نه لرم.

زه یې همدلته نږدې یوې حوزې ته بوتلم، د هغې ځای ظلمونه ډیر سخت وو.

د هر نفر نه به یې د هغوی د قرار گاه په باب پوښتنه کوله، چا چې به سم ځواب نه ورکاوه.

ډول ډول سزاگانې یې درلودلې، نوکان به یې ترې په نوڅې کش کول، اوف هغه درد چې رایاد کړم.

د پښو نوکانو سخت درد کاوه،

حمیرا زما لاس وچت کړ، اوس مې هم اکثر نوکان کاږه واږه وو.

تر سترگو یې اوښکې تویې شوې، د هغې د اوښکې څاڅکې پر څمکه ولوید، مگر ما پخپل سر حس کړ.

ورته مې وویل:

اوښکه دې پر څمکه تویه شوه او ما په سر حس کړه؟

ویې خندل.

په کلاره یې لاس په مینه ناک انداز مخ ته رانږدې کړ او پورې یې واهه!

ویې ویل:

بدرنگه گورې نه؟

باران دی، ژر ژر کوه، چې یو ځای پیدا کړو.

ومې ویل سمه ده.

شا وخوا وگرځېدم، له لیرې ځایه مې په غره کې په یوه ثمڅه سترگې ولگیدلې!

ورته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه، هالته مخکې ځمځه ده.

ویې ویل:

نه زه د ځمځې نه ویریږم.

ومې ویل:

راځه هیڅ هم نشته، هڅې په زور ځان مه خطا باسه!

ځمځې ته داخل شؤ، دا ځای ځنګل وو.

ځمځې ته د لندې خاورې بوی راته، چیرته لیرې د رات کیراني بوټی هم زرغون شوی وو.

له ځمځې داسې بوی راته، لکه چا چې پکې د عطرو خوش بویې پاشلي وي،

حمیرا خپله سپینه واورینه غاړه د اوبو له څاڅکو د خپل پړوني په پیڅکه وچوله.

زما پرې خیال شو، تر ډېر وخت وروسته مې یو چاته د مینې په سترګو وکتل، هغې چې راوکتل د مینه ناکو سترګو په غرض مې پوهه شوه.

سترګې یې ښکته واچولې، داسې لکه شرمیدلې چې وي.

بیرون باران وریده، د انګورو تاکونو ټک ټک کول.

د انسانانو خاموشي وه، دوه انسانان په یوه ځمځه کې د باران له ویرې پاتې شول.

په ځمځه کې د بدن تر وچولو وروسته مو د رمې ځینې میخې وچې کړې، حمیرا وویل:

هنري که بیا دې راته داسې وکتل، وژنم دې ګوره!

خندا مې وکړه، ورته مې وویل:

له اسما وروسته لومړی انسان هغه ته یې چې هم د اسما په کیسه پوهه شوې.

او هم دې د اسما زړه هنري تر لاسه کړ.

ویې ویل:

د هنري زړه تر لاسه کول، د هغو نجونو د وس کار دی چې د مینې هنر ولري.

ما وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته څه پرې پوهیږې؟

ویې ویل:

اسما د مینې هنر درلود، ځکه یې د نفرتونو په ښار کې ځانته مینه ناک هنري پیدا کړ.

خو دا چې تا ورسره بې وفایې کړې ده، کنه!.

دا به اوس درنه واورم.

خندا راغله، ورته مې وویل:

زما بې وفایې خو د اسما سره د کیسې له اوله روانه ده، د هغې ارمانونه مې نیمگړي پریښودل، هغه مې د مینې په ښار کې یوازې پریښوده او زه ترې بیرته خپلې پخوانۍ د نفرتونو نړۍ ته راغلم.

ویې ویل:

ته د نفرتونو نړۍ ته راغلی نه وې، تا د خپل هیواد لپاره خپله مینه، مور، پلار هر څه قربان کړي دي.

ته د مینې په هغه ښار کې وې، په کوم ښار کې چې به د جنتونو ذکر کېده، د حورو ذکر به پکې کېده.

او هماغه ښار ته له نویو ملگرو سره بلد کړې، یو نوی ژوند یې تاته درکړ.

که چیرې تا هغه وخت جهاد نه وای کړی، نو تا سره بله هیڅ لاره نه وه.

ځکه د کورنۍ د لاسه ورکولو وروسته د سړي سره بله هیڅ اسره هم نه وي.

او خپل ایماني غیرت ورته د کفارو په مقابل کې د جهاد امر ورکوي، ځکه نو تا هم جهاد وکړ.

که ستا پر ځای د اوس وخت حاکم حامد کرزی هم وای، نو ضرور به یې همداسې کړي وو.

حال دا چې هغه د امریکا په خوښه هر څه کوي، ځکه چې هغې هیڅکله هم د کورنۍ د مړینې درد لیدلی ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چا د کورنۍ د مړينې درد وکوت، که يې مسلمان هم کورنۍ وژلي وي.

نو په مقابل کې يې دا انسان راپورته کيږي او د خپل زړه په وينا ټول هيواد ته هم اور اچوي.

ځکه د ده کورنۍ هڅې هم پدې نړۍ نشته، نو څنګه دا نور انسانان د خوشحالۍ ژوند کوي؟

دا د دنيا قانون دی، که په کفارو کې هم عادل بادشاه پيدا شوی دی.

نو تر ډيره يې حکومت کړی دی، او ظالم پاچا تل د خپلو مظلومانو لخوا را پرزيدلی دی،

البته که ظالم بادشاه مسلمان وي.

هم يې خدای راپرزوي، دا ضروري نده چې ظالم پاچا دې خالي کافر وي.

ورته مې وويل:

بس بس ته خو سياست ته لاړې ياره!..

زما کيسه واوره،

په خندا شوه، کيسه مې ورته بېرته داسې پيل کړه.

زه يې له خپلو ملګرو جلا کړم.

په داسې يوه خونه کې مې ژوند شو چې نه ترې ورځ معلومېده نه هم شپه!.

د اودس لپاره هم اوبه نه وې.

بس تيمم به مې وواهه او په يو طرف به ودريدم.

له ځانه سره مې سهار غرمه او ماذيګر له تيزې رڼا او تتې رڼا معلومول، ښه وو د ورځې به يې يو ځل د تعذيب لپاره بيرون وباسلو.

دا هم ښه خبره وه، کله چې به يې سزاوې راکولې، نو زموږ به بيرته خپل ژوند ته تمه پيدا شوه.

هغه عالمان څه ښه وايي:

انسان له ډوډۍ پرته اووه ورځې ژوندی پاتې کيدای شي، له اوبو پرته اته څلويښت ساعته ژوندی پاتې کيدای شي، او د اکسيجن پرته پنځه دقيقې مګر راتلونکې ته له اميد پرته سړی يوه ثانيه هم انسان ژوندی نشي پاته کيدای!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه به یې چې تعذیب ته بوتلو، نو خوشحاله به وؤ، خپل ژوند ته به مو یو ځل بیا تمه پیدا شوه.

سزاو کې یې سخته سزا د ګوتې کاټ کول، شاټ ورکول او په پښه په مرمۍ ویشتل ؤ.

ما سره دا هر څه شوي وو، مګر زه یې د ګوتې له کاټ کولو مخکې په پښه وویشتم.

درملنه یې هم راته بیرته وکړه، داسې دوه درې هفتې له تعذیبه خلاص وم.

او د پوستې په عملیات خونه کې وم، پدې ورځ هیڅوک هم د کړکۍ له لارې نه ښکارېدل، زه هم په کلار کلار له خپله تخته راکېوتم، بیرون واوره ورېده.

د کړکۍ زلفی مې خلاصه کړه، په کلار کلار ها خوا ورواوړېدم، فکر مې کاوه هیڅوک مې هم نه ګوري.

ځکه مې نو په واورین توپان کې منډه کړه، د پښو زور نو دلته معلومېږي.

زما یادېږي، ډیر زیات تېز مې وځغاستل، په واورین توفان کې لاره نه معلومېده.

بس په یوه خوا رهي وم، پام مې نه وو.

له یو خوا ډز وشو، په پښه یې وویشتم، عسکرو زما طرف ته منډې راووهلې.

ښه وو، د ونې تر شا پټ شوم.

یو ځای خویه ګړنګ وو، ځان مې د ګړنګ پر لور ورخویه کړ.

تګ راته سخت وو، بس په مړو حساب وم.

د ګړنګ لاندې راوغورځېدم، بې هوښه شوی وم.

یو وخت مې خیال شو، یخې اوبه مې د مخ پر ژۍ تیرې شوې.

چې سترګې مې وغړولې، خوا کې مې د یخو اوبو نهر روان وو، پښې مې ډیر درد کاوه، نه پوهیدم.

چې څه وخت دی، بس په اوبو کې مې ډیر په سخته اودس وکړ او په اشاره مې لمونځ اداء کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنه مې په ځان پسې نیولې راکش کوله دا ځای مې نه پیژانده، ځکه چې دلته په راوستلو کې یې زموږ سترګې تړلې وې.

تاند هنري د نامعلومه سفر پر لور مخه کړه، ښنې مې سخت درد کاوه؛ خو لدې مخکې مې هم څو څو ځلې خپل جرات بایللی وو، هیڅ ګټه یې راته کړې نه وه.

ځکه مې د جرات بایللو سوچ هم نه کاوه، پوره درې ساعته مزل وروسته مې له لیرې ځایه یو کور ولید.

چې درې کونجه چت یې درلود او واوره ترې لړه لړه لاندې راغورځېده.

له ذهنه مې هر څه وتي وو، دومره نه پوهېدم، چې پدې وخت کې چې زما تر ښنې وینه روانه ده.

اودس به مې مات شوی وي او کنه!

ځکه چې واوره کې روان وم، اوبه هم نه وې.

تر څو اودس پرې وکړم.

د ماښام تیاره خوره وه، ښکاره معلومېده چې ماښام دی.

واورې خپل توپاني غونډوسکي په ځمکه غورځول، ما هم په یو اوار ډاګ د واورې پر سر لمونځ وکړ.

د ماښام خړه وه، مخامخ کور کې ژېړ څراغونه بل وو، ښیښو یې خوله نیولې وو.

زه په سر زخمي او په ښنه لګېدلی د کور مخې ته ودریدم، له ډیره درده زنګیدم.

ځانته مې همدا یوه توصیه کوله، بس چې دغه دروازه دې وټکوله بیا وغورځیږه!

دوی د الله تعالی بنده ګان دي، انشالله ضرور بدې مرسته وکړي.

ډیر په سخته مې د دروازې پر لور لاس تېر کړ.

خو تر ما مخکې له هغې خوا دروازه خلاصه شوه، زما سترګې کړیغې راووتې.

د هغې د کتلو سره راوغورځېدم، دا هغه کلی وو کوم کلي کې چې ما او تا تېره شپه تېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه ځای کې اوس کلی جوړ شوی دی، مگر مخکې کلی نه وو.

زه په ځان پوه نشوم، بس بې سده وم.

یو وخت مې سترګې پرانیستلې، د کټ پښو ته مې یو ماشوم ولاړ وو.

مور یې له لیرې ځایه غږ کړ، هنري!

وه هنري!

زه حیران شوم، چې اسما خو وپیژندم.

مگر ماشوم ورغږ کړ، ها مورې راشه ناروغ په هوښ راغی.

ما له ماشوم څخه وپوښتل، هغې هنري چاته وویل؟

ویې ویل:

تاته یې وویل؟

فکر مې وواهه، وارخطا شوم، دا د اسما کور وو.

هلک وخندل، بیا یې وویل:

نو نور یې چاته وویل دلته خو هنري یوازې زه یم.

زه هک حیران شوم، چې اسما پدې هلک هنري نامه ولې ایښې ده او زه یې څنګه لا تر اوسه ونه پیژندم.

بل د دې کور خو په خارج کې وو، دا دلته پدې دخته کې څه کوي؟

سوالونه ډیر زیات وو، مگر د یو سوال ځواب مې شکر پیدا کړ.

چې ما بڼره پریښې وه او د بڼیرې لرونکي تاند هنري او بې بڼیرې ډیر فرق لري،ځکه خو یې وه پیژندم.

بس ومې ویل:

باید چې له دې ځایه ووځم.

بیرون راووتم، واورین توپان ډیر تېز وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته کور ته ننوتم، په راډیویي خبرونو کې یې وویل:
چې دا توپان به نږدې یوه هفته وخت ونیسي، دا وخت مې اسما خواته راغله.
ورنه مې وپوښتل:
ستا خاوند چیرې دی، ځوی دې ماشاالله هوښیار دی.
هغې وویل:
زه خاوند نلرم، په غمجنو سترګو یې راوکتل، ما ترې ژر سترګې واړولې.
ویې ویل:
ما له یو هلک سره د زړه له تله مینه درلوده.
هغه هلک د سینما کارکوونکی وو، ما به له هغې سره شپې تیرولې، یوه ورځ زما او د هغې تر منځ لانجه راغله.
هغه غوښتل ما پریږدي، نه هم ورسره د دې فکر وو چې د اسما به ځوی پیدا شي.
او نه هم ورسره د دې فکر وو، چې تر ما وروسته به اسما د خلکو د پیغورونو ښکار شي.
زه یو ځل د هغه په مخ کې بې سده هم شوم، کله چې مې ماشوم پیدا کېده، نو ما هغه د کانیټینیټال هوټل ته ولیږه، تر څو زه پرې یو ناڅاپي د ځوی زیری وکړم.
مګر زما فیصله غلطه وه، کاش ما هغه هغې بدبخته کانټینیټال هوټل ته استولی نه وای!.
د هغه له یادګاره زه صرف دغه یو کورګی لرم، دا مې دلته ځکه جوړ کړ:
تر څو د خپل هنري تنده پرې ماته کړم، هغه ماته یو وخت ویلي وو، چې زما کور د نورستان او کونړ په منځ ساحه کې وو؛ زه هم دلته راغلم او کور مې جوړ کړ، او ها د هنري د ځوی نوم مې هم هنري کېښود.
تر څو ټول عمر له هنري سره واوسم.
له اوښکو ډکې سترګې مې راپورته کړې، یو ځل مې مین هنري رایاد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل او سالنګ چکرونه مې ذهن ته راغلل، یو ځل مې پریکړه وکړه، چې رازه اسما ته ووایه:

چې زه یم ستا هغه هنري چې ته یې په یو ځل کتلو باندې له خپله سره هم تېره یې!..

هاغه هنري زه یم چې تا ورته خپله بریتانیا پرېښې او د هغې د مینې ماتولو لپاره دې په نورستان کې ځانته کور جوړ کړی دی.

هو هماغه هنري یم، چې ته یې په کتلو پسې لکه واوره ویلي کېږي، او لکه شمعه ختمېږې.

بیرون د واورې توپان دقیقه پر دقیقه زیاتېده، په کور کې زموږ له درې واړو بغیر هیڅوک هم نه وو.

زه خو حیران دېته وم، چې زما ځوی هم پیدا شوی دی.

مګر ما بیا هم د خپل ځان سره مینه نه کوله او همدا اوس اوس له جنګه راغلی وم.

په هر حال زه پدې هر څه نه وم خبر، له اسما مې د راډیو غوښتنه وکړه.

هغې راډیو راوړه؛ ما راډیو چالانه کړه تر څو د هوا حالات او یو څه خبرونه پکې واورم.

دا وخت یې په خبرونو کې وویل:

په افغانستان افغان مجاهدین او د دې خاورې اصلي بچیان واکمن شول، پدې ښاوره پوره لس کاله د بهرني یرغلګرو (روسانو) واکمني چلېده، مګر اوس ورڅخه بهرنیان، خارجیان بهر شول، د دغه هیواد وګړي به هم یو څه وخت د آرامۍ ژوند انشاالله وکړي.

له خوشحالۍ مې ټوپونه ووهل؛ داسې رامعلومېده لکه د مرحوم پلار او خدای بښلې مور او د خپلو ټولو کلیوالو غږ مې ورځینې اخیستی وي.

هغوی زموږ له هیواد څخه شکر شرمنده ووتل، مګر ما غوښتل له اسما سره خپله ریښتینې پیژندګلوي وکړم.

د ماذیګر درې بجې به وې، واوره هم ودریدلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر ځمکه يې پخپل سپين والي له سره تر پايه پوره پوښلې وه، اسما په خپله خونه کې د بازو جامو په ګنډلو بوخته وه.

اراده مې کړې وه، چې په هر څه يې پوهه کړم.

مګر ناګهانه مې ذهن ته يوه نظريه راغله، ومې غوښتل چې د خپل ژوندون زيری په اسما باندې تر يو څه چکر وروسته وکړم.

مګر اسما به ما له ځانه سره چکر ته څنګه بوتلله، هغې خو فکر کړی وو چې زه کوم پردی يم.

خونې ته يې ورغلم، ورته مې وويل:

اسما!

زه تا پيژنم، ستا نوم هم ماته ياد دی.

او ستا په پوره شناخت هم خبر يم، ته د بريتانيا نه راغلې يې.

تا خپله کيسه کې دا خبره کړې نه وه، کنه؟

سترګې يې راووتې، حيرانه شوه چې دی پرې څنګه خبر دی؟

ما ورته وويل:

زه پوهيږم ته ډيرې زياتې پوښتنې له ځانه سره په زړه کې لرې، مګر نن پر ما باور وکړه.

له ما سره راځه، زه به تاته چکر درکړم او يو ښکلی زيری به هم درباندې وکړم.

هغې راسره ونه منله، دا وخت مې وکتل دا مخابرې ږغ خاموشه وو، ژر مې اوچت کړ.

قومندان جبار وو، ويل يې:

ژر ژر ځان راورسوه هلکه!

روسان خو مو شکر د الله په مرسته له هيواده وباسل اوس راته له پنجشيريانو خدای روسان جوړ کړي دي.

ما فکر وواهه، بس نور مې نه غوښتل جنګ وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مخې ته زما ښکلی ژوند په انتظار وو، قومندان جبار ته مې وویل:

قومندان صاحب زه وسله دروړم درتسلیموم یې، نور نه غواړم چې جنګ وکړم؛ بس دا مو هدف وو تر څو روسان لدې پاکې خاورې وباسؤ.

زه انشاالله سبا سهار ته کابل ته پخیر درځم.

لدې سره مې داسې خبره وکړه، له اسما سره مې هم خبره همداسې نیمه کې پرېښوده.

له ځانه سره مې پریکړه وکړه، چې له بیرته راتګ وروسته به ورته ټول ریښتیا ووایم.

هغه لا تر اوسه هم په ریښتیا خبره نه وه.

دا ورځ په کلار کلار ختمه شوه، د خبرونو والا اټکل غلط وخوت.

او شکر د سور لښکر د وتلو سره سپینه واوره هم الله تعالی ودروله، دا به د الله تعالی خوښه وه.

هغه مشران وایې:

له هرې تیارې وروسته رڼا راځي.

پر ما هم تر ډیرې سختۍ وروسته کومې چې ما په زندان کې تیرې کړې، الله تعالی راباندې رڼا راوستله،

زه په تمه وم؛ چې ژر ژر پخیر سبا شي.

او زه هم هاغه د جګړې ژوند د ابد او ابد لپاره پریږدم.

دا شپه له ډیرو خوشحالیو وروسته سبا شوه او ما هم خپل ټوپک او د جګړې ټول وسایل له ځانه سره راوخیستل!

د دې اټکل مې وکړ، چې پخیر کابل ته ځم.

لدې ځایه مې حرکت د هماغې ځای پر لور وکړ، چې زه پکې بندي وم.

پښې مې لا هم درد کاوه، روسان مو په هیواد کې نه وو، مګر زما په پښه کې یې نښان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پخواني ځای کې اوس مجاهدين وو، هاغه ځای مې هم وکوت کوم ځای کې چې به يې ماته سزا راکوله.

ټول ځايونه مې له نظره تېر کړل، په معبث کې يې د همدې ځای هغه عسکر پراته وو، چې زما په زورولو پسې به يې خندل!.

او خوند به يې ورځخه اخيسته، دا مې له ځانه سره ومنله د ظلم حاکميت که هر څومره هم قوي وي، يو ورځ د الله تعالی د يو عادي مخلوق انسان له لوري ضرور ړنگيدای شي.

دلته په پوسته کې موټرونه وو، مجاهدينو مرسته راسره وکړه او تر سړکه يې راورسولم.

د سړک پوستې ته يې وسپارلم، هغوی شکر ښار ته راوليږلم او په کلار کلار د کابل ښار ته ووتم.

خپل وسله هر څه مې ورته تسليم کړل، شکر ما چې څوک پيژندل د هغوی لاس کې اوس ټول افغانستان وو.

او ان تر رباني مو هم خبره رسېده، ځکه نو د مرکز په مرسته مې خپله مخابره د اسما له مخابرې سره وصل کړه او سيده د اسما له مبايل سره وصل شوم.

ويې ويل:

اسلام عليکم!

ما وويل:

وعليکم سلام اسما څنگه يې ښه يې؟

ويې ويل شکر.

اسما ودې پيژندم؟

ويې ويل: نه

ومې ويل: که ولاړه يې کښېنه او يو گيلاس اوبه ځانته ضرور کيږده، ځکه د داسې خبر په اوريدلو سره په هر چا د زړه حمله راتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویې خندل:

ښه سمه ده لګ صبر وکړئ.

وشو!

ښه اوس ووایې، مهرباني!..

ښه ګرانې اسما جانې زه تاند هنري یم، ستا مینه!..

ویې خندل، ویې ویل:

خا تاسې د دې لپاره زنګ وهلی وو، ما ورته وویل:

هو

ویې ویل:

زما خاوند تاند په یوه بمي چاودنه کې خپل ژوند بایللی او د مړو ژوندي کېدل بغیر له فلمونو په بل څه کې نه وي.

ومې ویل:

څو ورځې مخکې ستا کور ته د غټې بډیرې درلودونکی سړی درغلی وو.

که فکر دې وي، هغه ستا په اړه یو څه زیات پوهېده!..

له هغې په ژړا ځواب راغی څه څه؟

هغه ته وې، هنري!

ب ب ب ت بابب

اړیکه قطعه شوه، بار بار مې د اړیکې د وصل کولو هڅه کوله.

مګر نه وصل کېده، یو ځل وصل شوه.

د کوچني ماشوم ږغ وو، ویې ویل:

ماما جانه مور مې زه دنیا ته یتیم راوستی یم، زه په کور کې هیڅوک هم نلرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور باندې مې څه وشول، ماما زه پلار نه لرم.

مور به مې ویل:

بچیه که هر څه کوې کوه یې، مگر که د کومې نجلۍ سره دې مینه پیدا شوه له اوله نه راته ووایه!

چې درته یې په نکاح کړم.

داسې نه چې خدای ناخواسته یو بله ښځه هم دې دنیا ته لکه ستا په رقم یتیم بچي راوړي.

او لکه زما یې قسمت خوار شي او د تاند هنري په غم کې شپې او ورځې تیروي.

له سترگو مې گرم گرم څاڅکي وغورځېدل، د خپل ځوی خبرې ته سخته ژړا راغله، هنري د یوې نجلۍ له ژوند سره لوبې کړې وې.

ځمکې ځای نه راکاوه، هیڅ مې هم کولای نشو.

بازې وخت انسان ته الله تعالی داسې ازموینې هم مخې ته راوړي، ژر ژر مې خپلې اوښکې وچې کړې.

مخابره مې راپورته کړه، هلک لا هم خبرې ختمې کړې نه وې.

په سلگیو کې مې ورته مې وویل:

بچیه ته یتیم نه یې، زه ستا پلار یم.

او ستا حقیقي پلار یم، بچکه د مور په مخ دې یو څه اوبه وپاشه هله!

ویې ویل:

سمه ده.

فکر کووم، اسما رابیداره شوه، ځکه چې اړیکه یې قطع شوه.

داسې نیم ساعت وروسته یې بیا اړیکه وصل شوه، هله دا خو واوره شوې ده کنه؟

حمیرا بیرون ووتله، چې ویې کتل ریښتیا هم واوره شوې وه؛ هغې په واورې لوبې شروع کړې.

دومره ډېره نه وه لگه هرې خواته پرته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکر باران دریدلی وو، لمر راوخوت واوره هم په کلار کلار ویلي شوه، لمونځونه مو وکړل یو ځل بیا مو سفر ته ادامه ورکړه.

حمیرا وویل:

ښه کیسه کوه،

اړیکه یې تر نیم ساعت وروسته وصل شوه، ما له اسما سره په خبرو د زړه هغه بړاس وباسه چې دا دومره وخت مې په زړه پروت وو.

هغې وویل:

زه پخیر کابل ته درځم.

ما وویل:

سمه ده، راشه پخیر !

هغې هماغه وخت کې حرکت راکړی وو.

هغه وخت خو اوس پشان موبایلونه نه وو، چې ځای ځای مې یې احوال اخیستی وای.

ځکه یې نو نور له احواله خبر نشوم، زه دلته له خپلو ملګرو سره ښه خوشحاله وم.

زما د راز ملګری فرید وو، هغه له ما سره د سینما په تمثیل کې هم وو.

له هغې سره به مې یو ځای طرحې جوړولې او د کانټینیټل طرحه یواځې ما جوړه کړې نه وه،

فرید راسره پکې سل په سله شریک وو.

د هغې په وسیله خو زه هم ډیر قوي وم، ځکه ما او هغې تر ټولو سخت کار ته اوږه ورکړې وه.

په هر حال دا ورځ تېره شوه، مګر اسما راونه رسېده.

د شپې مو خبر تر لاسه کړ، د پنجشیریانو له لوري په ماهیپر او د کابل په ځینو سیمو درې توغندي ویشتل شوي دي، ډیر زیات خلک پکې وژل شوي دي.

زړه مې ترک وخوړ، فرید او نورو ملګرو تسلي راکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر ما سره بله لاره نه وه، په همدې نیمه شپه ورپسې روان شوم.

یاران دې ژوندي وي، تکلیف یې راسره وکړ.

په ماهیپر کې هیڅ هم نه وو، ټول ټپیان او خلک یې روغتون ته وړي وو.

روغتون ته روان شؤ، په لګ وخت کې شکر تر روغتونه هم راورسېدؤ، یو یو ناروغ مې کاته!

زړه مې درزا کوله، په ناروغانو کې خو نه وو.

مرده خانې ته ورغلم، ګورم اسما ناسته ده خپل مخ په سپیړو وهي.

مخ ته یې کوچنی ماشوم پروت دی، زما ځوی؛ هغه ځوی چې مور به پرې تر پنځه کاله یتیمۍ وروسته د دې زیری کړی وي.

چې ته له یتیمۍ ووتې، هغه ځوی چې د ځوی په نوم غبر کول ورته زما ارمان وو.

هغه ارمان مې عمري ارمان پاته شو.

بس کوچنی هنري په حق ورسېد، د تقدیر به همدا خوښه وه.

دا هر څه راپېښ شول، اسما لیونۍ شوه، ځوی مې د لاسه ورکړ او نورستان هم راڅخه د ابد او ابد لپاره پاته شو.

حمیرا وویل:

نو اوس ته د چا کره اوسیږې؟

ورته مې وویل:

نه د کیسې نه به مخکې ټوپونه نه وهې، کیسه باید پوره واورې!

بس هماغه ورځ شوه، په کابل بریدونه شروع شول.

له یو خوا به پرې مسعود راکټونه غورځول، له بلې خوا به پرې ګل بدین حکمتیار راکټونه راویشتل.

کابل خپله ټوله ښکلا د لاسه ورکړه.

زه هم ترې ووتم، اسما مې ننګرهار کې په یو زیارت کې پریښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته مې وويل:

پدې ډېر خيال کوه.

زه هم لوی ملا صاحب حفظه الله خپلې خواته يعنې کندهار ته وروغوښتم.

دا چې ما او هغې يو ځای جهاد کړی وو، نو د جهاد ښه پاښه ملګري وو.

هغه عالمان وايې:

د څلورو ځايونو ملګري هيڅکله هم له چانه هيريږي، لومړی د مکتب ملګري دوهم د جهاد ملګری دريم د معبث يا بند ملګری څلوم د سفر ملګري!

موږ هم د جهاد ملګري وو، په لومړي کې شپږ تنه برابر شؤ.

شاوخوا مدرسو ته ټول ولاړؤ، په لومړي ځل هيڅ نفر راسره له مدرسې راوچت نشو.

په دوهم ځل هم، په دريم ځل مو يوه شورا جوړه کړه چې شورا ته لوی ملا صاحب وفرمايل:

تاسې به تر اوسه پدې هم خبر نه ياست، چې موږ ولې جګړه کوو.

له جيبه يې انځورونه راوباسل، ويې ويل:

موږ د دې لپاره جهاد وکړ، چې د کورنيو عزتونه مو خوندي شي.

په هيواد کې په ارمه ژوند لدې سرو کافرو څخه وکړؤ، مګر د هيواد په ختيځ کې يوه ډله راپورته شوې له لويديځ والو سره جنګ کوي.

له هرې خوانه په هيواد کې ظلم روان دی.

دا لومړی انځور وګورئ، په کندهار کې يو قومندان دی.

ځانته يې خپله حجره کې له هلک څخه نرښځی جوړ کړی دی او ګډوي يې!.

دومره نه پوهيږي، چې که زما د ځوی سره څوک داسې وکړي، پر ما به څه حال وي؟

مګر نه!..

فحشا ته يې لمنې بډ وهلي دي.

دلته وګورئ، پښتنو د فارسيوانانو په سرونو کې ميخونه ټک وهلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته وگورئ، فارسیوانانو د پښتنو له ښځو او میندو ځینې اندامونه غوڅ کړي دي.
تاسې یې گورئ، په لښتو کې یې د پیغلو سینې نیولې دي او په بازار کې یې گرځوي.
دوی په زور او طاقت پسې لیونیان دي.
روسانو مو عزتونه لیلامول خالي، دوی مو لومړي وژني او بیا مو عزت لوټوي.
لیکوال:
(دا هغه ریښتینې پیښې دي، چې په هغه وخت کې یې په واقعي ډول شتون درلود.)
لدې سره موږ هم تکل وکړ، چې هر څنگه کیږي باید خلک پیدا کړو.
په ډیرې خوارۍ مو پوره دیرش نفره پیدا کړل، په دیرش نفرو مو جگړه شروع کړه.
زما هڅې هم نه څوی وو، او نه اسما!
بس بیرته مې خبلې جگړې ته کار ووایه، د جگړې سره د هرې سیمې نه خلک د خپلو ټوپکو سره راوتل او زموږ د لیکو سره شاملیدل!.
واه څومره خوندوره ورځ وه.
یواځې موږ نه وو، چې د ظلم ختمول مو ارمان وو.
بلکې دا اوس د ټول افغانستان ارمان وو، د رباني عسکرو او خلکو به موږ ته د پاکستان خلک ویل، زما ملگري هم پکې وو مگر ټول مې پریخودل، خو خوشحاله پدې شوم.
چې د خلکو له راتللو سره فرید هم د رباني ډله پریښوده او له موږ سره یې یو ځای توب ته زړه ښه کړ.
په ډیر لگ وخت کې مو شمیر تر درې سوه اوبیا درې زره شو.
زه او لوی ملاصاحب سخت حیران شؤ، ځکه له مدرسو څوک جنگ ته نه راځي.
دا نظر چې د هر چا وو غلط وو.
که خلک جهاد ته راځي، نو هاغه خلک راځي چې ظلم یې لیدلای وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ باید کوسو او کلیو کې په خلکو پسې گرځیدلي وای، زه لکه د پخوا په څېر بیا د جگړې لومړۍ لیکې ته راتلم.

ځکه تر ټولو زیات باور د دې ځای پر ما کېده.

او په دیرش کسیزه ډله که به هم تر نورو مخکې زه تلم.

زموږ د شمیر له ډیرېدو سره شکر په افغانستان کې کلار کلار ظلمونه کم شول.

گل بدین پیښور ته وتختېده، او مسعود هم د امارت په راتللو سره له جنگه لاس واخیست.

تر ډیر وخت وروسته مې یو ځل بیا کابل ولید، مگر هیڅ هم پکې روغ نه وو.

هرې خوا کنډوالې کنډوالې وې.

موږ چې ښار ته ننوتو خلکو راته حیران حیران کتل، د رباني کسانو د امارت عسکر خلکو ته ډیر بد خلک معرفي کړي وو.

هغوی موږ ته داسې کتل، لکه موږ چې وحشي حیوانات یو او اوس به دوی ټول وخورو.

مگر داسې نه وه.

زموږ ارمان د همدې کابل له ظلم خلاصیدل وو.

کوم چې وران ویجاړ پروت وو، خو خیر افغانان تل د خبرونو په خبرو او تبلیغاتي خبرو پسې ځي.

خپله له ځانه سره دومره دماغ هم نلري او گوري هم نهْ!.

مگر دوی هم ملامت ندي، جهالت دی.

ناپوهي ده، بس چې چا ورته څه وویل هماغه مني!..

ساده گان خلک دي.

د کابل په جوړولو مو پیل وکړ.

مگر زه یې دلته پرینښودم، او لوی ملا صاحب خپل کندهار ته وغوښتم.

زه د هغو شپږو تنو څخه وم، چې له اوله مې په جهاد کې برخه اخیستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نو زه د امیر المومنین ملا صاحب تر ټولو نږدې نفرو څخه یو نفر شوم، زموږ مطلب دا نه وو چې حاکمان دې شو.

بلکې له افغاستانه د فساد گرو د جرړې ختمول مو مقصد وو.

مگر وروسته بیا ټول افغانستان شکر راپاتې شو، تر څو حاکمیت پرې وکړو.

او خدمت ورته وکړو، هره ورځ به مو خوارئ کولې، او سختئ به مو د خپل هیواد لپاره گاللې، اسما لیونئ وه.

او په میاشت کې به یې زه ضرور یو ځل خوا ته ورتلم.

هغه به تل په غیږ کې له ځانه سره تیره ایښې وه، او زنگوله به یې.

کله به پورته شوه او د زیارت په طرف به ولاړه، او وبه یې ویل:

زما ځویه زه تاته ضرور پلار راولم، ته به یتیم نه مړ کیږې.

ته دعا کوه چې ژر ژر کابل ته خپل پلار ته ورسیږو، زما هنري ځویه زما گلاب ځویه زما تاند ځویه

حمیرا اوښکې پخپل نارنجي نستوښي چې تورې لیکې یې درلودې، وچې کړې.

پزه یې هم پرې پاکه کړه، زما په اوږه یې سره کیښوده، او د ماښام په خړه کې راسره یو ځای د رمې سره فنا شوه.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکوال لنډه پیژندنه:

سید ادریس سادات په کال ۱۳۸۲ د بایللي افغانستان په شمشتو نومي کیمپ کې د مهاجرت پر مهال په یوه دینداره او پور علمه کورنۍ کې دنیا ته سترګې پرانیستلې!..

د نوموړي د کورنۍ اقتصادي وضع له هیواده د مهاجرت پر وخت ډیره خرابه وه.

مګر هیواد ته په راستنېدو، الله تعالی ښکلی ژوند ور په برخه کړ.

د نوموړي پلار سید شیرین پاچا افغانستان ته پوره دیرش کاله د ماین پاکۍ په برخه کې خدمت کړی دی.

او خپلو بچو ته یې حلاله نفقه پیدا کړې ده.

سیدادریس سادات پنځه ورونه لري، چې په ټولنه کې یې د ټولنې عام وګړي په بیلابیلو خدمتونو سره پیژني.

او په هره برخه کې دغه پر علمه او پرتمنه کورنۍ خپلې خوږې خاورې ته خدمات ترسره کوي.

نوموړي سره د خپلې کورنۍ د امریکایې یرغل پر وخت افغانستان ته د مهاجرت له ژونده پنا راوړې ده.

سیدادریس سادات په کال ۱۳۹۰ کې د ننګرهار په نامتو مدرسه ګمرک جماعت کې زده کړې پیل کړې، او په کال ۱۴۰۰ کې له دغې مدرسې څخه د سپیڅلي او پاک کتاب قران عظیم الشان حافظ فارغ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیوي زده کړې یې د ننگرهار په استقلال لیسه کې وکړې او د کانکور په امتحان کې د پښتو ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو.

اوس لپاره یې دغه اثر ستاسې په لاس کې دی، هیله ده چې خوند ورنه واخلئ.

هیره دې نه وي، چې سید ادریس سادات د دې اثر سربیره نور ناولونه هم لري، کوم چې نومونه یې ناځوانه نجلۍ، لوی امپراتور او همداسې نور دي.

تاسې کولای شئ، چې د نوموړي هر کتاب په ننگرهار کې د مومند خپرندویې ټولنې څخه تر لاسه کړئ.

د ننگرهار ملي راډیو د نشراتو مدیر

سعید جواد

په درنښت!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**